مورچل

پنځلسم کال دویمه، پرلپسې ۱۴۹مه ګڼه،
شعبان - رمضان ۱۴۴۲هق، مارچ - اپرېل ۲۰۲۱م

له کوم جمهوریته نه تیریږي؟!!

د نېکمرغه کوچني اختر په مناسبت
د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث

هبة الله اخندزاده حفظه الله

د مبارکۍ پیغام

داقصی دفاع او ساتنه به یواځې دغزې مسلمانان کوي؟

- د کابل رژیم په عسکرو شکست ولې ګډ دی ؟
- ولس مهم دی که ولسواکي؟
- همدا دې وخت دی لږ فکر وکړه!
- خروج امریکایی‌ها و بیتابی جمهوریت‌خواهان
- امریکا دې له شل کلن اشغاله سبق واخلي!
- د اقصی جومات کیسه!

مورچل

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنۍ خپرونه

پنځلسم کال دويمه، پرلپسې ۱۴۹مه ګڼه،
شعبان – رمضان ۱۴۴۲هق، مارچ – اپرېل ۲۰۲۱م

لړليك

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د کوچني اختر په مناسبت د اميرالمؤمنين پيغام	۳
۳	د کابل رژيم په عسکرو شکست ولې ګډ دی؟	۸
۴	خروج امريکايی ها، وبيتابی جمهوريت خواهان	۹
۵	ولس مهم دی که ولسواکي؟	۱۲
۶	د اقصی دفاع او ساتنه به د غزې مسلمانان کوي؟	۱۵
۷	امريکا دې له شل کلن اشغاله سبق واخلي؟	۱۷
۸	همدا دې وخت دی لږ فکر وکړه!	۱۹
۹	هو! مسلمانان ! اسرائيل ننګولی شي..خو	۲۲
۱۰	لحظاتی در سنګرهای چخانسور	۲۵
۱۱	د اقصی جومات کيسه !	۲۷
۱۲	فلسطين کې بشري قتل عام او دنړۍ بحسه بشر	۳۲
۱۳	د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه..(حکمت سره بلنه)..	۳۷
۱۴	روژه کې د کابل ادارې لخوا په ملکي خلکو بريدونه	۴۰
۱۵	د ملکي تلفاتو ورځني جزئيات	۴۱
۱۶	جنګي جنايتونه (مارچ/اپرېل)	۴۷
۱۷	پرديو ګټو پسې راغلي، دهغوی ښاغلي او آغلي	۵۷
۱۸	د مورچل وږمې	۶۲
۱۹	د۲۰۲۱م کال د مارچ/اپرېل مياشتو جهادي خبرونه	۶۴

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

صلاح الدين "صارم"

کتنپلاوی

ايوب صافی | حکمت
معين احمد | حافظ سعيد
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

له کوم جمهوریته نه تیریږي ؟!!

د امریکایانو له ماتې او وتلو سره هم مهاله یې په کابل کې د پاته شونې اداري په قول اوعمل کې خورا تفاوت راغلی او د ارګ مېشتو د کردار او رفتار قدمونه ډېر کاږه واږه دي، رښتیا هم چې په ارګ دغه بې ثباتي او وارخطایي به دامریکایانو عاجلې او وارخطا منډې راوستي وي چې له هغوی سره په اشغال کې د ونډې په حساب کتاب کې افغان مسلمان ولس ته اوس دوی یواځې پاته کیږي .

بل لور ته دقدرت مینې او خوږو دومره مجبور کړي چې د ځان دبقا لپاره له هیڅ راز ناروا او جرم څخه لاس نه اخلي او د خلکو د تېر ایستلو هڅې کوي دبیان دآزادی او جمهوریت نارې یې شروع کړې چې له جمهوریته نه تیریږو. جمهوریت لکه د ډېرو نورو استبدادي نظامونو په څېر دوی هم خپلو نارواوو او هوسونو ته وسیله ګرځولې.

دغو موخو ته د رسېدو هڅو یې دقول اوعمل ترمنځ دومره واټن راوستی چې هسې په ظاهري بڼه هم جمهوریت او جمهوري اصولو ته ژمنتیا نه تري معلومیږي، تازه تازه یې د بیان دازادی په ترڅ کې! رسنۍ دملي امنیت له لوري وګواښلې او ډانګ پیلي یې ورته وویل چې نور به دارګ له دیکتې اوسپارل شویو خبرونو اومعلوماتو پرته بل څه نه خپروي، دا په داسې حال کې چې کابل مېشتې رسنۍ لا له مخکې په دې متهمې دي چې رسنیز رسالت ته متعهدې نه دي او تر ډېره دحکومت پلوي کوي په ورته مهال د ولسي جرګې ځینو غړو دامنیت درئیس دا ګواښ هم په ډاګه کړ چې دوی ته یې ویلي : سیاسیون اورسنۍ که دطالبانو په ګټه تبلیغ وکړي د ترهګر چلند به ورسره کیږي .

رسنیو، دنظر او قلم خاوندانانو ته دغه تهدید یواځې تر قوله محدود نه دی، بلکې په عمل کې یې ډېر خبریالان او دقلم څښتنان په رڼا ورځ ترور کړل په کابل ښار اوله کابل دباندې ډېرې هدفي وژنې ترسره شوې په دې اړه د عفوې دنړیوال سازمان په هغه اعلامیه کې چې کابل چارواکو ته د خبریالانو دساتنې خبرداری یې هم پکې ورکړی ویلي چې په تېر یوه کال کې په افغانستان کې تر لسو زیات خبریالان وژل شوي دي .

همدا اوس د ملي امنیت ځینو کار کوونکو چې د دې اداري له کړنو ناراضه شوي او استعفاوې یې ورکړې دي دغه رازونه نور هم افشاکړل، له دې په مخکې هم په ورته ډول اسناد خپاره شوي او دکابل چارواکو دشومو ارادو شوم پلانونه یې رسوا کړي دي .

په دغسې عمل او هاغسې قول کې کابل چارواکي له کوم جمهوریته نه تیریږي چې ولس یې د سولې له نعمته محروم او په سره اور کې غورځولی ؟ هر دشعور اوعقل خاوند په دې پوهیږي چې له دې ډول ناوړه اعمالو او جاني کړنو هدف یواځې او یواځې دقدرت غځول دي، هاغه قدرت چې له پیله ور ته له نامشروعو لارو ر سیدلي دي،هاغه قدرت اوحکومت چې هیواد یې یو وار بیا دملوک الطوایفۍ په لوري روان کړی .

له شک پرته له دې وروسته په دې ډول په واک کې د کابل اداري پاته کېدل پرته له دې چې هیواد نور هم د ناورین په لوري ور ټېل وهي بله هیڅ کومه تمه تري کېدای نه شي ، نو په دغسې حالاتو کې مجاهدین لاس تر زنې نه شي کېناستلی هم شرعاً او هم دهیواد ساتنې له مخې مکلف دي چې خپل مسؤلیت اداکړي، ترکومه چې دسولې او مذاکراتو خبره ده په دې اړه اسلامي امارت په پوره اخلاص او زړورتیا برخه پکې اخیستې اوله خپل لوري یې په تمامه معنی مسؤلیت پکې ادا کړی، خو د دې په ځای چې له دې فرصت څخه مثبته استفاده وشي مقابل جهت ناوړه ګټه تري پورته کوي او په مسلسل ډول دسولې په وړاندې خنډونه ایجادوي .

١٤٤٢هـ ق

د نیکمرغه کوچني اختر د را رسېدو په مناسبت

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

د مبارکۍ پیغام

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله. صلى الله وسلم عليه وعلى آله و أصحابه أجمعين ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين. اما بعد:

قال الله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُ وا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧٧﴾ سورة محمد

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) که مددګاري وکړئ تاسي له (دین دالله اورسول د) الله سره نو مدد به وکړي (الله) له تاسي سره (په غلبه پر دښمن) اوثابت به کړي قدمونه ستاسي په ځای د جنګ کې.

د افغانستان مؤمن او مجاهد ولس، د سنګر مجاهدینو او د نړۍ مسلمانانوته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت تاسو ټولوته د زړه له کومي مبارکي وایم، الله تعالی مو روژې، عبادات او دعاګانې قبولې کړه. امین

ـ خوښ یم چې د الله جل جلاله په ځانګړي فضل داځل اختر داسې مهال لمانځو چې هیواد مو د بشپړې آزادۍ او خپلواکۍ په درشل کې ولاړ دی او د الله جل جلاله په نصرت سره د تیر شل کلن جهاد د شهیدانو، یتیمانو، کونډو، مهاجرینو او غمجنو

هېوادوالو آرمانونه پوره کيدو ته نيږدې شوي دي. ان شاءالله تعالی.

له الله تعالی څخه غواړم چې زمونږ د ملت او مجاهدينو دا اوږده مجاهده، ستومانی، قربانی او سرښندنې په خپل عالي دربار کې قبولې کړي، په عوض کې يې مونږ ته د بشپړ شرعي نظام د قيام تر سيوري لاندې آرام، سوکاله او خپلواک ژوند رانصيب کړي، چې هيواد مو ترقي وکړي، د جګړو ويجاړی بيرته ودانې کړو، زخمونه پټی، خپل ملت هوسا او مقدس شريعت نافذ کړو.

ــ اړينه ده چې په دې لاره کې د خپل ځوريدلي ملت د زغم او ميړانې او د خپلو مجاهدينو وروڼو د سرښندنو او غيرت قدرداني وکړو، د بنديانو، زخميانو، معلولينو، يتيمانو او د ځوريدليو هيوادوالو قربانی وستايو او له الله تعالی څخه د قبوليت دعا ورته وکړو.

ګرانو هېوادوالو!

ــ د خپلواکی تر لاسه کولو وروسته مو هيواد بيا ودانولو او په پښو دريدلوته شديده اړتيا لري، راځئ چې ټول د خپل هېواد په بيرته آبادی کې په اخلاص سره ونډه واخلو، ترڅو د شرعي نظام په سيوري کې يو مرفه او آباد هېواد ولرو، د دې کار لپاره له شخصي منافعو او جاه طلبيو څخه تير شو، اسلامي ارزښتونه او ملي ګټې معيار وګرځوو، د عفوې، درګذر او يو پر بل د ترحم له لارې يو غښتلی او متحد ملت و اوسو.

ــ مونږ خپل ټول ولس ته ډاډ ورکوو چې د اشغال له خاتمې وروسته به يو داسې افغان شموله اسلامي نظام رامنځته کيږي، چې ټولې پرګنې به په کې د خپل اهليت او استعداد په بنا ځان وينې، د هيڅا په حقه حقوقو به تيری نه کيږي. ان شاءالله.

ــ په مقابل جانب کې ولاړو افغانانو باندې يو ځل بيا غږ کوم چې نور د جنګ د دوام لپاره هيڅ ډول هڅه ونه کړي، دا هيواد د افغانانو ګډ کور دی، مونږ تاسو بايد د اسلام په احکامو سره راجمع شو، له اختلافاتو او هر ډول تعصبونو څخه ځان وساتو. د اسلامي امارت غيږه د ټولو هغو افغانانو پر مخ خلاصه ده چې په تير کې زمونږ سره په مخالفت کې پاتې شوي، هغوی ته د عفوې او نزدېکت لاس اوږدوو او د حق د لارې د ملګرتيا دعوت ورکوو، له سر زوری، عقدې او دښمنی څخه هيڅ نه جوړيږي، خو برعکس له تحمل، زغم او حقيقت منلو څخه ملتونه عزت او ويار ته رسيږي.

ــ داچې امريکا او نور بهرني هيوادونه خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه باسي دا يو ښه ګام بولو او کلکه غوښتنه کوو چې د دوحې ترون ټولي برخې عملي شي. متأسفانه چې تر اوسه پورې امريکايي جهت د لاسليک شوې توافقنامې څخه په

مکرر ډول سرغړونې کړې دي او ولسي خلکو ته يې درانه ځاني او مالي تلفات اړولي دي.

ـــ د ژمنې پرخلاف پاتې بندیان چې باید د مذاکراتو له پیل څخه دري میاشتې وروسته آزاد شوي وای، لا هم نه دي خلاص شوي، له تور او جایزه لیستونو څخه د اسلامي امارت د مسئولینو نومونه لا نه دي ایستل شوي او په دا وروستیو کې یې بله سرغړونه دا وکړه، چې د بهرنیو ځواکونو د ایستلو بهیر یې له مې میاشتې څخه تر سپتمبر پورې وغزاوه، دا په داسې حال کې ده چې اسلامي امارت په خپل اړخ کې ټول تعهدات عملي کړي او په خپلو وعدو یې د شریعت مطابق وفا کړې ده.

موږ یو ځل بیا ټینګار کوو چې باید هرڅه د دوحې له توافقنامې سره سم پرمخ لاړ شي، نور له پاروونکو اعمالو او خلاف ورزیو څخه جدي ډډه وشي، که چیرې امریکا بیا هم په خپلو ژمنو وفا نه کوي، نو نړۍ باید شاهده و اوسي چې د عواقبو مسئولیت به بیا د امریکا په غاړه وي، اسلامي امارت به په هر قیمت د خپل هیواد له استقلال او خپلواکۍ څخه دفاع وکړي او دا خبره یې په تیرو شلو کالو کې ثابته کړې ده.

ـــ د افغانستان اسلامي امارت له نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره ښې او مثبتې اړیکې غواړي، تر څو په اړوندو برخو کې یو له بل سره د انساني او دیپلوماتیکو تعاملاتو له مخې د خپلو ولسونو د سوکالۍ او پرمختګ لپاره د متقابل درناوي او ښه چلند په أساس د شرعي اصولو په چوکاټ کې د همکارۍ اړیکې ولرو.

اسلامي امارت ټولوته ډاډ ور کوي چې د افغانستان له خاورې څخه به هېڅا ته ضرر نه رسیږي، همدارنګه له ټولو څخه غواړي چې د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله ونه کړي.

ـــ د ملګرو ملتونو له سازمان او نورو ذي دخله هېوادونو څخه غوښتنه کوو چې د افغانستان په قضیه کې خپله کامله بې طرفي وساتي، د افغانستان د خلکو د ژوند، عقیدې، طرز او تفکر په اړه داسې هڅې ونه کړي چې هغه زموږ د ولس له غبرګون سره مخ کیږي.

باید ووایو تیرو درې ځلویښت کلنو تجربو وښوده چې زموږ ملت د هیڅا لخوا تحمیل شوي نظریات او باورونه نشي زغملی، دا ملت حق لري، چې د خپل دین، عقایدو، ارزښتونو او د خپل فرهنګ له اصولو سره سم ژوند ولري، بناء باید د ملګرو ملتونو د سازمان په شمول ټول نړیوال زموږ دغه حق ومني او درناوی ورته وکړي.

ـــ موږ ته مذاکرات او تفاهم اولویت لري، له همدې کبله مو د مذاکراتو لپاره قوي مذاکراتي ټیم موظف کړی، تر څو له مقابلو جهتونو سره بین الافغاني مذاکرات پرمخ یوسي؛ خو بالمقابل د کابل

اداري بار بار له مختلفو لارو څخه هڅې کړي او کوي يې چې روان سياسي جريان سبوتاژ کړي.

ـ اسلامي امارت د قضيې مهم اړخ دی، مورږ بايد څوک په هغو خلکو قياس نه کړي چې فيصلې يې بل ځای کېږي او دوی ته صرف ابلاغېږي. هر سياسي بهير چې د افغانستان د مسئلې د حل په اړوند وي او له إسلامي امارت څخه د ګډون تمه کېږي، بايد مخکې له مخکې له تفصيل سره إسلامي امارت په جريان کې واچول شي، تر څو يې د خپلو ديني ارزښتونو او د خپل ملت د عليا ګټو سره سم ارزيابي کړي او په اړه يې لازم تصميم ونيسي، دا څکه چې مورږ ته زمورږ د ملت هغه لوړ اهداف مهم دي چې د هغو لپاره يې سترې قرباني ورکړې دي.

ـ له علماء کرامو، پوهانو، سياسي او ملي شخصيتونو او ټولو نخبه ځيرو څخه هيله لرم چې په خپل هيواد کې د سوچه اسلامي نظام د اقامې او آبادۍ لپاره لاسونه سره ورکړي، د ملت د يووالي، قوت او په پښو دريدلو لپاره کار وکړي، اسلامي امارت د دوی سعيې او هڅې ستايي او د راتلونکي نظام په وجود، قوت او پياوړتيا کې د دوی له استعدادونو څخه استفادې ته اشد ضرورت لري او قدر يې کوي.

اسلامي امارت خپل ټول ملت په ځانګړي ډول تجارانو او سرمايه اچوونکو ته ډاډ ور کوي چې د ټولو سر، مال او عزت به په امن وي، نه يوازې دا بلکې د فعاليت او کار لپاره به مناسب فرصتونه او زمينې ورته برابرږي.

ـ کومې سيمې چې د اسلامي امارت تر ولکې لاندې دي، هلته ډاډمن امنيت ټينګ دی، د خلکو حقوق نه تلف کيږي، څوک پرچا ظلم نشي کولای، د غلو، شکوونکو او مفسدينو مخه نيول شوی، تر ممکنه حده په تعليمي، صحي، دعوتي، عمراني او فرهنګي برخو کې کار شوی او لاهم توجه ورته کيږي.

ـ اسلامي امارت د ټولو عام المنفعه پروژو، تأسيساتو او اماکنو ساتنه او حمايت کوي، د لاقوت، پراختيا او پرمختګ لپاره يې هڅه او کوښښ کوي، ټولو مجاهدينو او په عموم کې ټولو هيوادوالوته هم سپارښتنه کوي چې د عام المنفعه ځايونو کلکه څارنه، ساتنه او پالنه وکړي، چاته اجازه ورنه کړي چې کوم ځای زيانمن يا تخريب کړي.

ـ د راتلونکي نسل او د هيواد د ښيرازې لپاره تعليم او تربيه مهم ضرورت دی، هر ملت د تعليم په مټ پرمختګ کولای شي، اسلامي امارت د سالم تعليمي جريان حمايت کوي او د همدې مقصد لپاره يې يو ځانګړی کميسيون توظيف کړی دی، د مدارسو، مکاتبو، پوهنتونونو او نورو تعليمي ادارو پرمختګ يې له مهمو اهدافو څخه دی، نو لهذا بايد ټول ولس د خپلواولادونو سالمې ښوونې او روزنې ته خاصه توجه وکړي، د تعليمي ادارو او مراکزو ساتنه

او پالنه وکړي او په وړاندې يې خپل مسئوليت ادا کړي.

ـ په جنګونو کې ملکي خلکوته زيان رسيدل او هغوی تلف کيدل د ډيرې خواشينی او تأسف وړ دي، اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره ځانګړی او باصلاحيت کميسيون لري. مجاهدين او هيوادوال بايد له ياد کميسيون سره هر اړخيزه مرسته وکړي چې خدای مه کړه په جهادي جريان کې ملکي خلک متضرر نشي، که چاته ضرر رسيدلی وي، تر ممکنه حده جبران شي او په راتلونکې کې د ورته پيښو مخنيوی وشي.

همدا ډول په مقابل جانب هم غږ کوو چې د ملکي خلکو له وژلو، ځوروولو، او ځپلو څخه لاس په سر شي. متأسفانه چې تر اوسه پورې د مقابل جانب په عملياتو، ړندو بمباريو، توغندیو ويشتلو اونورو بريدونوکې زمور ملکي هيوادوال تلف کيږي، زيان ورته رسيږي چې په هيڅ ډول د زغم او تحمل وړنه ده.

ـ مجاهدين وړونه بايد له خپل ولس سره له نيک او نرم برخورد څخه کار واخلي، دا ملت ډير ستړی شوی او ځوريدلی، بايد ټول ترحم پرې وکړو، بايد په هيڅ ځای کې هم له چاسره ظلم او زياتی درڅخه ونشي، که له تاسو سره چا ظلم او زياتی کړی وي، هم بايد مور او تاسو يې د الله تعالی د رضا لپاره تحمل او هير کړو، په خپل هيواد کې د سولې، امن او يووالي لپاره بايد لا ډير زغم ولرو او د خپل ولس قدر وکړو، ورسره شخصي- اعمالوته مو ډيره توجه وکړئ، لمونځونه په جماعت سره ادا کوئ، له ګناهونو څخه سخت ځان ساتئ، همدا راز د بريا په درشل کې غرور او لويي در څخه ونه شي، بلکې لازمه ده چې د الله جل جلاله شکر أداء کړو او لا ډيره رجوع ورته وکړو، نور هم د الله تعالی څخه نصرت وغواړو او لا ډير توکل پرې وکړو.

په پای کې يوځل بيا د نيکمرغه کوچني اختر په مناسبت ټول ولس ته مبارکي وايم، له مالدارو او توانمندو هيوادوالو څخه هيله کوم چې په دې مبارکو شپو ورځو کې د خپلو غريبو، يتيمو، معيوبو، بې وزلو او محتاجو هيوادوالو سره مرستي وکړي، خصوصا سړ کال په هيواد کې وچکالي ده، خلک مو خورا ډيرې ستونزې لري، د کورونا وبا بله هغه لويه غميزه ده چې ولس مو ور سره لاس اوګريوان دی، نو بايد حتي الوسع د دې بيچاره ولس لاسنيوی وشي، همدا ډول خيريه بنسټونه او کومک کوونکې ادارې او نړيوال سازمانونه هم بايد له خلکو سره هر ډول همکاری ته خپله توجه زياته کړي او مرسته ورسره وکړي. والسلام

د اسلامي امارت زعيم اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده

۱۴۴۲/۹/۲۷هـ ق

۱۴۰۰/۲/۱۹هـ ش

۹/۵/۲۰۲۱م

دکابل رژیم په عسکرو شکست ولې ګډ دی

م ـ خبیراحمد

دا څو اونۍ په مسلسل ډول دامارت دمجاهدینو په لاس دکابل رژیم دمهمو جنګي بیسونو ګټو ولسوالیواوسوونوپوستود تخلیی او لاسته لویدو خبرونه مخې ته رازي .

په نوروډلائیلوسربیره ښکاره ده چې امریکایانو د کابل رژیم اوسنۍ اردو جوړه، مجهزه او وې روزله اواوږه په اوږه داشل کاله دافغانانو په خلاف سره په ګډه و جنګیدل، امریکایی وسلو، تکنالوژی، وسائلو اوډالرو داردومورال برابرساتلی و داتصوریې همیشه ورکړی و چې امریکایان به هیڅکله هم داردو اوکابل رژیم له ملاتړاوحمایت څخه لاس په سرنشي

خو اوس هغه دکابل اردو او رژیم سخت یتیم اوبې ښکاري دوئ ورته ګوري اوامریکایان ترینه کډې باروي ترټولوځورونکي لاداچې امریکایان له خپلو اډوهرڅه نقلوي یواځې دخاورو بوجې او ترنګړونه اردوته په میراث کې پریږدي طبعا اوس چې طالب په اردو بریدکوي لکه دپخواپه څیر د حمایې او دفاع لپاره امریکایی ډول ډول چورلکي نه ورته رارسیږي، دډرون الوتکو څارګري بنګنې په اسمان کې نه ښکاره کیږي نوځکه داردو اورژیم زړونه سوري سوري کړي مورال یې سخت لویدلی له مشره ترکشره سربداله دي وانې الوتې چې معمولي کوم برید په بیس اویاپوسته وشي دنرځوی به څوک وي چې ورته ټینګ شي یاتسلیمیږي اودتیښتي لار نیسي

ابله ورځ چې جلریز ولسوالی طالبانو ونیوله تسلیم شوو عسکرو یې ویل چې پنځه ورځې محاصره ول پخوا به چې هسي دطالبانو څو توغندي ولسوالۍ ته راشارت شول په څو دقیقوکې به هوایی اوځمکنیوملاترو. قووتونو ځان راورساوه اوس چې امریکایان په تلوتلوکې دي پوره پنځه ورځې ولسوالی دطالبانو له خوا محاصره وه نور خوځه کوي چې خوراکي موادهم له ولایت او کابل څخه چا راونه لیږل دعسکروپه خبره دوې مجبورشول چې تسلیم شي

یوه عجیبه خبره یوه عسکرداهم وکړه چې دوئ ته امریکایانو اوداخلیانوپه مسلسل ډول داخبره په ذهن کې وراچوله چې طالبان اسیران ژوندي نه پریږدي له نیول کیدو سره سم یې وژني عسکرویل دوي خوچې طالبانوته تسلیم شول تراوسه ورته چا بده اودپیغورخبره هم نده کړي که داسې خبروای نو دایوه هفته محاصره اومرګانی حالت به مو ولې تیراوه.

خروج امریکایی‌ها
و بیتابی جمهوریت خواهان

حبیبی سمنگانی

با آغاز مرحله‌ی نهایی خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، داد و بیداد دموکراتان افغان وانمود می‌سازد گویا این بیچاره‌ها بالاخره باور کرده‌اند که امریکایی‌ها ما را ناچار و ناهنجار گذاشته، از افغانستان رخت بر می‌بندند و می‌کوچند. بلی، این روشن‌فکران و دور اندیشان شاید تا دیروز هم به خود اطمینان می‌دادند که دنیا سرازیر شود، مگر امریکای ما از افغانستان رفتنی نیست، چون امریکا برای پس رفتن نیامده است. خلاصه؛ زمین جنبد نجنبد گل محمد.

چندی پیش با یکی از نزدیکان دموکرات و لندن‌نشین خود در مورد آینده‌ی حضور نظامی امریکا در افغانستان بحث داشتم، او چنان نکات جالب و جاذب را برای پایان ناپذیری حضور امریکایی‌ها در افغانستان بیان نمود، که بنده هم بر باورهای خود اندکی متردد شدم، لحظه‌ای تامل کردم و فکر کردم شاید این مرد جهان‌دیده و جهان‌آشنا از واقعیت‌های دور و دراز و سیاست‌های پشت‌پرده و پنهان، بیش‌تر آگاهی داشته باشد. اما اکنون که رفتن رفتن امریکا را می‌بینم، نمی‌دانم آن مرد مهربان چه فلسفه‌ی تازه‌ی با خود داشته باشد.

نخست می‌خواهم نمونه‌های چندی از واکنش‌های احساساتی، رقت‌آور و دردناک دموکراتان در برابر خروج باورنکردنی امریکایی‌ها از افغانستان را، اینجا نقل کنم. کوتاه‌ترین و جامع‌ترین تبصره‌ی که درین باب شده از یک خانم ژورنالیست است. وی که درین روزها لقب چهره‌ی آزادی بیان را هم دریافت کرده، در کومنت بر یک تویت سفارت امریکا در کابل، نوشته است: «شما بروید، ما هستیم، شاید زنده بمانیم».

گفتنی‌ست که درین تویت تقریبا به همه کارمندان سفارت امریکا دستور داده شده است که هر چه زودتر افغانستان را ترک کنند

و به‌جای امن‌تر بروند. شاید درک کرده باشید که دموکراتان افغان، که خود را متحدان استراتژیک امریکا می‌پنداشتند، از این خبر غم‌انگیز چقدر ناراحت شده باشند.

دموکرات دیگری که چهره‌ی اکادمیک است، در علوم سیاسی سند دکتورا دارد و در کشور دنمارک نشسته از نظام شکست‌خورده‌ی جمهوری در افغانستان دفاع می‌کند، در خطاب به امریکایی‌های بی‌وفا با لهجه‌ی خشن می‌گوید: «وقتی می‌روید تکنوکرات‌های دزد، دموکرات‌های غارت‌گر و مشاوران تاراج‌گر تان را نیز با خود ببرید. طالبان نکتایی‌پوش، داعشیان قرآن‌خوار، مجاهدین پول‌پرست و مافیای مواد مخدر تان را فراموش نکنید. نفرین مردم را همچنان از یاد نبرید! شما با آمدن و رفتن تان مرگ آفریدید، لعنتی‌ها! ».

خانم دیگری که رئیس کمیسیون حقوق بشر در افغانستان است، درد دل خود را با این شعر تعبیر داده است: باز ما با موج و توفان مانده ایم / هر که آمد، بار خود را بست و رفت.

همچنان یک دموکرات جوان با جهانی از یاس، اندوه و اضطراب، می‌نویسد: «آمریکا رفت، قرار بود دموکراسی بیارود، اما یک مشت..... و سیل عظیم از فقیر و جنگ را مایه گذاشت. ما اکنون هیچ نداریم، نه فرهنگ، نه اقتصاد و نه سیاست». او با اوج حسرت و نا امیدی می‌گوید: «دلم نمی‌شود کتاب بخوانم، فیلم ببینم و موسیقی بشنوم، حس خستگی و نا امیدی دارم، آخر به این وضعیت آشفته و نامعلوم به چی دل‌خوش کنم. شاید مثل کابل خسته‌ام، مثل جنگ‌جوی که نمی‌داند برای چی می‌جنگد و مثل افغانستان خسته و خونین. ما همه خسته‌ایم».

اما هنوز هم دموکراتانی هستند که به امید منقلب شدن وضعیت اند، تا شاید جو بایدن بر تصمیم خود بازنگری کند و بر حال زار این دموکراتان نابکار ترس بخورد. چنانچه در اثنای‌که این مطلب را می‌نگاشتم، مقاله‌ای را دیدم که در وب‌سایت یکی از روزنامه‌های معروف سیکولار «هشت‌صبح» منتشر شده بود. نویسنده‌ی آن، هنوز هم امید را از دست نداده و در حاشیه‌ی خیال او می‌آید که شاید اتفاقی رخ دهد و امریکا در افغانستان بماند. او در مقاله‌اش تحت عنوان «افغانستان پسا امریکا» ضمن بررسی پیامدهای خروج امریکا از افغانستان، گفته است: «گمان غالب این است که امریکا برای اشراف و نفوذ بر کشورهای منطقه به ویژه ایران، چین و روسیه و استفاده از منابع سرشار طبیعی و موقعیت سوق‌الجیشی افغانستان، این کشور را ترک نخواهد کرد». اما از سوی دیگر، وی تبعات فوری خروج امریکا را چنین صحنه‌برداری می‌کند: «افغانستان از چشم جامعه بین‌المللی می‌افتد، حضور و فعالیت سازمان‌های جهانی کاهش می‌یابد، فعالیت سفارت‌خانه‌ها محدود می‌شود، افغانستان به رسانه‌های جهانی بی‌اهمیت می‌شود، اقتصاد افغانستان ضربه محکم می‌خورد، هزاران تن بیکار خواهند شد، زمینه به مداخله آزادانه کشورهای منطقه فراهم خواهد شد، افغانستان بار دیگر..... ». بلی، بسیار ناگوار و دلخراش!

نمونه‌های فوق، مشت نمونه‌ی خروار بیان‌گر آشفته‌حالی فوق‌العاده‌ی دموکراتان و یا دموکرات‌نماهای افغان از پایان حضور نظامیان خارجی در افغانستان است. اما جای تامل

اینست که بالاخره امریکایی‌ها و متحدان آن تا چند سال دیگر در افغانستان می‌ماندند و هزینه‌های سرسام‌آوری را به دوش می‌گرفتند، تا این جمهوریت و جمهوری‌خواهان سر پای خود ایستاده می‌شدند.

حقیقت اینست که جمهوریت در افغانستان در یک دهه‌ی اخیر به‌جای سیر تدریجی صعودی سیر سریع نزولی داشته است. اکنون وضعیت به‌حدی وخیم شده است که بیش‌تر از دیگران، خود دموکراتان جمهوریت افغانی را به تمسخر می‌گیرند و القاب تمسخرآمیز را نثار آن می‌کنند. اکنون بخش اعظم دموکراتان هم به این باورند که از جمهوریت در افغانستان تنها نام برده می‌شود، اما در حقیقت این‌جا نه جمهوریت وجود دارد و نه هم ارزش‌های آن.

اگر منصفانه قضاوت شود با سردرگمی و سرگردانی که امروز جمهوریت در افغانستان روبه‌رو شده، کاملا قابل پیش‌بینی بود. چون جمهوریت در افغانستان در این دو دهه تنها به‌حیث ابزار برای مشروعیت بخشیدن و خوشنما ساختن اشغال به کار برده شده است. اکنون که گلیم اشغال برچیده می‌شود، ناگزیر است که سرنوشت جمهوریت نیز زیر پرسش‌های جدی قرار می‌گیرد. زیرا باور عمومی افغان‌ها همینست که سرنوشت اشغال و جمهوریت در افغانستان با هم گره خورده است.

لازم این بود که جمهوریت‌خواهان افغان از ماجراهای چند سال اخیر پی می‌بردند که امریکا در افغانستان برای همیش ماندنی نیست، و باید برای روزگاری پس از خروج امریکایی‌ها از پیش آماده می‌بودند، اما این‌ها هنوز هم درس نگرفته‌اند و هماکنون هم یگانه امید این بیچاره‌ها همینست که اشغال دوام یابد و ما در زیر سایه‌ی آن از «جمهوریت» بهره ببریم. این‌ها که دو دهه‌ی کامل با شعارهای فریبنده‌ی «شرکای استراتژیک» تن به غلامی داده بودند، چنان با غلامی خو گرفته‌اند، که حتی صلاحیت تصمیم‌گیری در مورد آینده‌ی خود را هم ندارند. این‌ها به هر سو نگاه می‌کنند تا فرشته‌ی نجات بیاید و کشتی ایشان را از توفان برهاند.

ولس مهم دی که ولسواکي؟

برما یا میانمار د آسیا په جنوب شرق کې د هندوچین د حوزې یو بودایي هیواد دی. دا هیواد چې په تېر ۷۰ کلن تاریخ کې ډیره موده د ځواکمن پوځ لخوا اداره شوی، دوه شیان په کې ډیر ځپل شوي دي. ولس او ولسواکي (دموکراسي)

راځئ یو ځل د برما د ولس او ولسواکي د ځپل کیدو پس منظر راوسپړو او بیا وګورو چې د اوسنۍ نړۍ په خاص ډول د غرب په سیاسي قاموس کې اصلا ولس مهم دی او که د ولس په نوم پورې ضمیمه شوې د غرب سیاسي نسخه دموکراسي یا ولسواکي؟.

برما هیواد چې کله اویا کاله پخوا له برتانوي استعمار څخه خپلواکي واخیسته له هغه وروسته تر اوسه د پوځ لخوا اداره کیږي. پوځي جنرالانو نسل په نسل د واک مزی په خپل لاس کې ساتلی، غرب او امریکا چې ځان د دموکراسۍ متصدي بولي، له همدې امله د برما له حاکمانو ګیله من ښکاري، امریکا له څو لسیزو را هیسې ځکه د برما په پوځ بندیزونه لګولي چې ولې یې ولسواکي یا دموکراسي زندۍ کړې ده. د آنګ سان سوچي په نوم یوه ښځه چې په برما کې د دموکراسي لپاره تلاش کوي، غربیانو د نوبل جائزه ورکړه.

خو په ۲۰۰۸ م کال کې په برما کې یو مهم بدلون راغی، پوځي مشرانو د دموکراسۍ د غربي سرېندې په وړاندې تاب رانه وړ او د نوي اساسي قانون په تدوین سره یې په برما کې د دموکراتیک نظام د جوړولو اعلان وکړ. د برما دموکراسي واقعي نه بلکې نمایشي وه، ځکه پوځ لا هم ټولې دفاعي او امنیتي چارې په خپل ګورت کې ساتلې وې، په پارلمان کې باید څلورمه برخه څوکۍ پوځیانو ته له ټاکنو پرته ورکړل شي او له دې علاوه پوځیان کولای شي په نورو څوکیو هم سیالۍ ته ودریږي. په اساسي قانون کې د هر تغیر لپاره د پارلمان ۷۵٪ فیصده رایې معیار وټاکل شو. یعني په اساسي قانون کې د پوځ له خوښې پرته هیڅ تغیر نه شي راتلای. خو د برما د دموکراسۍ له دې جعلیت سره سره غرب او په سر کې امریکا د دې تغیر پراخ هر کلی وکړ، د امریکا ولسمشرانو برما ته سفرونه

وکړل، بندیزونه پورته شول او د برما او امریکا مناسبت په تودیدو شول.

اما په برما کې کـه یـوې خـوا تـه ولسـواکي یـا دموکراسي په غوړیدو وه، بل اړخ ته بیا د ولس (چې د ولسواکۍ مبداء بلل کیږي) بده ورځ په پیلیدو شـوه. د برمـا دموکراتیـک حکومـت د ۲۰۱۲ م کـال پـه جـون میاشت کـې پـه غـربي ولایـت اراکـان کـې د مسـلمان روهینگایي ولس قتل عام پیل کړ، د مسلمانانو په کلیـو بریدونه پیل شول، پـه زرګونـو کورونـه یـې وسـوځول شول، په بازارونو کې یې دوکانونه چور او د وژلو لړۍ یې شروع شوه. په زرګونو مسلمانان په ډیـره بـې دردۍ قتل او یو شمیر خو یې حتـی ژونـدي وسـوځول شـول. مسلمانان چې د دې هیواد څلور فیصده نفـوس جـوړوي دې ته مجبور کړای شول چې بایـد هیـواد پریـږدي. پـه لکونو برمایي مهاجر بنګله دیش ته واوښتل، ځینې یـې چې په کښتیو کې یې د تیښتې هڅه کوله، هیڅ هیـواد اجازه نه ورکوله چې په خاوره یې پیاده شي، نو ځکه په میاشتو میاشتو په سـمندري سـفرونو کـې پاتـه شـول. خلاصه دا چې په برما کـې پـه روهینګـایي ولـس هغـه نادودې وشوې چې قلم یې د تعبیـر تـوان نـه لـري. امـا ځومره چې د برما د روهینګـایي ولـس پـه هـډونو د بـل شوي اور لمبـې تـودې وې پـه وړانـدې یـې د غـربي یـا دموکراتیکي نړۍ عکس العمل همدومره سوړ و. ځکـه په برما کې خو ولس په اور کې سوځیده، ولسواکي یـا دموکراسي ته خو کوم زیان نه و رسـیدلی. بلـه دا چـې دغه ټول مظالم د یوه ولسواک نظام لخـوا تـرسره کیـدل او دا چې د برما په حکومت د ولسواکۍ یـا دمـوکراسي تش نوم پورې و، همدې کفایت کـاوه چـې دا خونخـوار رژیم معصوم او له انتقاده محفوظ وبلل شي.

د برما د خونخـوارې ولسـواکۍ پـه وړانـدې خـو غـربي نـړۍ خاموشـه پاتـه شـوه، امـا تقـدیر تـرې د روهینګایي ولس غچ واخیسـت. د تېـر ۲۰۲۰ م کـال د نومبر میاشتې لـه انتخابـاتو وروسـته د واکمـن ګونـد (نیشنل لیګ فار ډموکراسي) او پوځ تر منځ مناسـبات خړ پړ شول. واکمن ګوند هڅه کوله پـه اسـاسي قـانون کې په ترمیم راوستلو سره د پوځ له ځغ نه ځان خـلاص کړي، خو پوځ وربانديې وار مخکې کړ او د روان کال د فبروري په لـومړۍ نیټـه یـې د یـوې کودتـا پـه مـټ د ولسواکۍ ټغر ورټول او پوځي نظام حاکم کړ.

د برما په نمایشي دمـوکراسي دغـه بریـد یـوازې د آنګ سان سوچي په ګوند برید نـه و، بلکـې لـه شرق تـر غربه یې ټول د دموکراسۍ شعاربازان ودردول. د ملګـرو ملتونو سرمنشي- انتونیـو ګـوتریش دغـه کـار د سـخت افسـوس وړ او ټکـان ورکـوونکی وبالـه. د برمـایي دموکراسۍ د ویر تاو تر امریکا هم ورسیده، سپینه مانۍ وبوږنېده او د برما کودتاچیانو ته یې سخت اخطار ورکړ. د امریکا خارجه وزیر انتوني بلینکن د برما له پـوځ ځخـه وغوښتل چې د آنـګ سـان سـوچي پـه شـمول د واکمـن دموکرات ګوند ټول کارکوونکي ژر تر ژره خوشي کړي. اروپایي اتحادیې هم د دموکراسۍ په دغه ویـر کـې برخـه واخیسته او د بهرنیو چارو مسؤل یې وویل چې اروپایي اتحادیه د برما پـوځ او ولسـواک ګونـد تـر منـځ پـه دې کشمکش کې د ډموکراسي پلـوو تـر څنـګ ولاړه ده. لـه دې علاوه استرالیا، بنګله دیش، سـنګاپور او ګڼـو نـورو هیوادونو هم د دموکراسۍ په ویر اوښکې تویې کړې.

د برما د دموکراسـۍ د نسـکوریدو درې میاشـتې پوره کیږي، خو غم یې لا هم نـه دی سـوړ شـوی. اوس هم غربي حکومتونه او سازمانونه پـه دې اړه اعلامیـې صادروي او خپله غمشریکي څرګندوي. د ولسواکۍ په

ویر کې دغه ساندې داسې مهال جریان لري چې د برما د ولس یوه لویه کتله (څه کم یو میلیون روهینګایان) په بنګله دیش کې د بې کورۍ او غربت ژوند تیروي. دا هغه خلک دي چې د آنګ سان سوچي له دموکراسۍ څخه یې دلته پناه راوړې، دوی په قساقسم امراضو، سوء تغذي او بیلابیلو مصیبتونو مبتلاء دي. له دې علاوه په لویدیز ولایت اراکان کې لا هم د روهینګایي ولس خاموش قتل عام او نژادي تصفیه جریان لري. اما د ولس دغه فریاد هیڅوک هم نه اوري.

دغه ټول جریان ثابتوي چې د جمهوریت پلوو په قاموس کې ولس د یوې ټنګې اهمیت هم نه لري. بلکې د دوی په باور مهمه د دموکراسۍ په نوم هغه سیاسي نظریه ده چې د ولس په نوم پورې پیوند شوې او له ولس په کې ابزاري استفاده کیږي.

دا بحث ځکه مهم دی، چې زمونږ په هیواد افغانستان کې هم له تیرو شلو کلونو راهیسې همدا ماجرا روانه ده. غربیانو د ولسواکۍ په نوم نظام د کروز توغندیو او جنګي الوتکو په وزرونو سپور راوړ، د ولسواکۍ د تعمیل لپاره یې د افغان ولس قتل عام پیل کړ، په ولس یې زندانونه او هدیرې ډکې کړې، تر څو ولسواکي (دموکراسي) زرغونه شي. لا هم د دموکراسۍ د ټینګولولپاره د ولس بربادي روانه ده. اشرف غني وایي چې که سل کاله هم جګړه دوام کوي او افغان ولس تباه کیږي، دی حاضر نه دی چې له جمهوریت (دموکراسۍ) تېر شي. نومورې وایي چې حتی په خپله هم د دموکراسۍ په لار کې سر قربانولو ته حاضر دی. د دموکراسۍ د ساتنې لپاره ولس د جګړو په اور کې ایسار ساتل ثابتوي چې دلته هم د دموکراتانو په باور ولس د قربانۍ هغه پسه دی چې باید د ولسواکۍ په پښو کې حلال شي.

د فکري پوهنې کتاب لیکوال استاد عبدالهادي مجاهد وایي چې دموکراسي یوازې سیاسي نظریه نه ده، بلکې یو ځانګړی دین دی او د خپلو پیروانو لپاره د دین په شان تقدس او افضلیت لري. دا چې ګورو چې د دموکراسۍ متصدیان په خاص ډول غربي نړۍ او په سر کې امریکا او ګوډاګیان یې د دموکراسۍ د پیاده کولو لپاره له هیڅ وحشت، تجاوز او ستم څخه مخ نه اړوي او حتی هغه ولس چې د دموکراسۍ مبداء او مأخذ دی هم د دموکراسۍ په پښو کې حلالوي، معلومیږي چې واقعا دوی په دغه خودساخته سیاسي بدعت ایمان راوړی او د دیني معتقداتو په شان یې مهمه بولي.

لوړ تحلیل ته په پام سره ولس باید پوه شي چې د دموکراسۍ په معادله کې ورته د یو خنثی فاکتور په نظر کتل کیږي، یوازې ترې شعاري او ابزاري استفاده کیږي او نور هیڅ اهمیت او مؤثریت نه لري.

داقصی دفاع او ساتنه به یواځې دغزې مسلمانان کوي؟

■ خلیل - عزیز

دغزې له محدودو سرسپارلو مجاهدینو پرته ایا د مظلومو فلسطینیانوحمایت اوداسلام د ړومبی قبلې دفاع لپاره څوک شته چې ورودانګي او د خپلې مسلمانۍ دعوې او شعارته د عمل جامه ور واغوندي؟

ولې نشته، دسعودي عربستان مجهز نیږدې دوه نیم لکه پوځ لري چې هرکال ورباندې ۶۹ ملیارده ډالرمصرفوي یعني له امریکا اوچین ورسته عربستان ده چې په خپل پوځ لوی لګښت کوي تنها ټرمپ دورې کې امریکاته دیوه قراردادله مخې دوسلودخریداری په خاطر لس ملیارده ډالر ورکړل؛ مونږ فکرکاوه چې سعودي واکمن به ددغو وسلو اوتوغندیو په مټ دفلسطین پاکه ځمکه له پلیدو او غاصبو یهودانو ازاده کړي، خوخبرنه وچې په هغووسلوعربستان دیمن حوثیان په نښه کړل او دا څویم کال ده چې دانګریزانو دخوشحالولو لپاره له یمن سره په ناکامه اوشرمیدلي جګړه کې ښکیل دی قدس، فلسطین اودغزې مسلمانانو سره دهمدردی په جای هره ورځ دهغوپه زخمونو مالګي دوړوي، سخت دریځي او دایران جاسوسان یې بولي .

له عربستان ورسته ډیرمخ پاکستان ته اوړي ځکه یواځینۍ اسلامي هیوادده چې اتوم لري؛ ویل کیږي دغزې اوسنۍ معرکي ته چې دروژي په ورستی عشره کې پیل شوي او سوونه دغزې مسلمانان اسرائیلي جارحیت په وینولړلي پاکستان دهمدردۍ په نیت د (ایدهی فانډیشن) لسګونه رضاکاران ورلیږلي اویابه یې ممکن ورواستوي ترڅوزخمیان معالجه کړي؛ پاکستان ممکن یوبل استدلال هم وکړي چې دکشمیر دازدۍ جهادهم ورله غاړي دی یانې ځان به په فلسطین کې نه ستومانه کوي!!

دایران سپاه پاسداران اودقدس سپاهیان چې دقدس دازادۍ ترشعارلاندې جوړشوي ددې لپاره چې فلسطین له غاصبواسرائیلووژغوري په سوریه اوشام کې یې دامریکا جنګ نورشغلور او ګرم کړ تردې چې اسرائیلوڅوځله په ایراني اډو ګڼ توغندي وتوغول اومرکزي پوځي نقطي یې ورورویشتلي

خوايران يوتوغندئ هم په اسرائيلو ورخيرنکړ سره لدې چې په هرلحاظ يې پلمه هم جوړه وه

خوچې کله خامنئ چيرته تقريرکوي نو هره دريمه جمله يې مرګ په امريکا او اسرائيل وي ولې دعمل په ميدان کې بياداسرائيلوپه وړاندې دعمل يوه ډبره هم نشي ورويشتئ

دمصرپوځ ته خو امريکا دنده سپارلي ترڅو په اوسنيوحالاتوکي ځان په ليبيا کې مصروف وساتي دامريکا خليفه کفترقومندان پوره حمايه کړي دغه راز په داخل دمصرکې ځوک دواقعي اسلام ناره اوچته نکړي او هم دغزې د مظلومو خلکو باندې روانه محاصره اوکلابندي په دقيق ډول وڅارى ځوکوم کارتن خوراکي اوصحي موا ته داخل نسي کړاى.

داماراتو دولت او عسکراو نور عربان خو هسې هم داسرائيلو او امريکا لپاره حلال کړل شوي او سره شوي پاخه چرګان دي داسرائيلو رسميت ته له بل هراسلامي هيواد وړاندې اماراتو ور ودانګل

دترکيې ۴ لکه پوځ خوهسې هم بهانه جوړه ده چې مونږتراوسه دسيوکلريزم په پنجوکې خښ يو داتاترک ساه اوس هم ددوئ په رګونوکې تنفس کوي، طيب اردګان که څه هم خپله تلاوتونه کوي اوداسلام پرجوشه شعارونه زمزمه کوي خوهغه تراوسه دويناوحنجري ترحده محدوداوپوښلي دى تردې زيات که کوم ګام پورته کړي ناممکن په اروپايى ټولنه کې يې دنامنهاده اوبې پايلي هيله چې دهغې ټولنې ممکنه غړيتوب ده سړي اوبه وربانديې تويى نشي اويومخ يې ځواب نکړي؟!

همداسې نور اسلامي هيوادونه چې شميريې شپيتو ته رسيږي او په لسهاوو ميلونه لښکرې لري خوداقصى اومعراج دځمکې دازادولو لپاره چې له تيرې نيږدې يوې پيړۍ راهيسي غاصبو يهودو اشغال او غصب کړي احساس اوضميريې په تحرک اوخوځښت نه رازي خوکه دامريکاخوښه اوقومنده وي نوبيااان افغانستان ته هم داماراتو اواردن عسکردسوله ساتوپه نوم جګړې او جنګ ته رازي داسلام دلارې له مدافعينوسره جنګيږي، خوداسلام دړومبۍ قبلې دفاع ته يې ملاوي اواورميګونه مات دي

معلومه خبره ده چې ددغوهيوادونو لښکرې اوواکمن امريکا جوړ اونصب کړي اوپه غوږ يې همدا خبره ورايښي چې دفلسطين، کشمير اودامت په نورو غميزوکې به هيڅکله تاسې کارنلرى که موغوږ وښوراوه نو بيا به مودغه عيش عشرت، شاهي نظامونه، چلتارونه اودپرمختللو وسلو او پوځونه دعوې اوکش فش ترډيروخت پوري نه وي

دفرياد اوځورځاى دى چې د اسراييلو دولت د ۵۶ اسلامي خاورو په منځ کې پروت دى. شاوخوا يې د نړۍ په کچه ځواکمن اسلامي هيوادونه پراته دي او يوازې يو دولت يې دومره ځواک لري چې له دې خاورې څخه د يهودو اشغال ټول کړي.

خو بيا هم دا چاره ځکه ناشونې ده چې د مسلمانانو چارواکو د غلامۍ کړۍ په غاړه کړي او د امريکا او غرب په غلامۍ کې دومره ډوب دي له فلسطين سره د مرستې پر ځاى د فلسطين له دښمنانو سره مرسته او دوستي کوي. تر څو بادار يې راضي او دوى په واک کې وي.

امریکا دې له شل کلن اشغاله سبق واخلي!

ارمان مجاهد

ټاکل شوې وه چې د۲۰۲۱ زکال د مې میاشتې ترلومړۍ نیټې پورې د دوحې د تاریخي هوکړې سره سم امریکا له افغانستانه خپل پاتې اشغالګر ځواکونه وباسي او ګران هیواد د ښکېلاک (امریکا) له تورو منحوسو منګلو څخه نجات وموميږ.

لیکن د یادې نیټې تر راتلوځخه څو ورځې د مخه دامریکا ولسمشر جوبایډن د خپلو عسکرو د ویستلو نیټه د روان ۲۰۲۱ زکال د ستمبر میاشتې تریوولسمې نیټې پورې وغځوله او اعلان یې وکړ چې د راتلونکي یوولسم ستمبر وروسته به په افغانستان کې یوامریکایي عسکر هم شتون ونلري.

له دې اعلان څخه تردې مهاله دپاتې امریکایي عسکرو د انخلاء لړۍ پیل او دوام لري د سیاسي کتونکو په نظر د پاته امریکایي عسکرو د وتلو پیل د اشغال پای ته رسولو په لور ضرور یو مثبت ګام دی او هغه اندیښنې چې ګواکي امریکا په افغانستان کې د طویل المدت پوځي شتون اراده لري له منځه وړي.

د بایډن د اعلان وروسته د پاتې عسکرو د وتو لړۍ ښیي چې امریکې په راتلونکي کې د پوځي حضور غځولو حوصله بایللې او زمکنۍ قراین او علامات هم د دې ښکارندوې کوي چې دامریکا حکومت خامخا د راتلونکي یوولسم ستمبروړاندې د پاته عسکرو د ویستلو قاطع هوډ کړی دی او اراده نلري چې په جنګ کې د ښکېل پاته شي.

له شک پرته افغانستان کې د امریکا پوځي موجودیت د افغانستان په ګډون د ټولې سیمې امنیت، ثبات استقرار اوخوشالې هم ګوابنې، په تیرو شل کلونوکې مور او نړیوالو ولیدل چې امریکایانو له ځانو سره افغانستان اوټولې منطقې ته بې شمیره بدمرغۍ راوړې، په لکونو انسانان د دوی د یرغل په نتیجه کې شهیدان ټپیان اوبې کوره شوي دي امریکا او دهغې د ائتلافي ملګرو په وحشیانه عملیاتو اوبریدونوکې ودان کورونه، کلي اوښارونه ړنګ او د خاورو په ډیریوبدل شول او هم په مقابل کې دافغان ولس د تاریخي



مقاومت او جهاد په مټ په زرګونه امریکايي يرغلګرعسکر مړه، ټپيان اوپه رواني ناروغيو اخته شوي دي، اوس چې په افغانستان کې کوم شمير عسکر پاته دي، د هغوی دننه هم ډ هنې ډار، فشار اورواني ناروغۍ په لوړه سلنه شتون لري، اکثريت يې د جګړې له نومه ډاريږي اوپه هره بيه چې شونې وې هغوی له موجوده حالته وتل غواړي.

دامريکا د متحده ايالاتو حکومت هم دا درک کړې ده چې افغانستان کې د دوی د عسکرو نور پاته کيدل او پرې لګښتونه کول کومه ګټه نلري بل لورته اوس هغه د ۲۰۰۱ زکال بډای امريکا هم نده پاتې، پرمختللی پوځي او اقتصادي ځواک يې اوبه شوی دی، په جګړه کې دلګښتونو دزغملو مورال نلري، د دې لپاره هڅه کوي چې ځا نته داوړو پوزې په جوړولو له روانې جګړې ووځي.

بل پلوته د منطقې هيوادونه او ولسونه هم احساسوي چې د افغانستان په ګډون په ټوله منطقه کې موجوده خورې ټولې ناخوالې په افغانستان کې دامريکايي ځواکونو د نامشروع شتون زيږنده دي، په دې وجه هغوی ته ښکاره ده چې څو پورې امريکايي ځواکونه له افغانستان څخه وتلي نه وې ترهغې اوسنۍ ناخوالې پای نه مومي، هغوی هم په سملاسي توګه د ټولو بهرنيو عسکرو د وتو غوښتونکي دي او په امريکا او نورو هيوادونو غږکوي چې د کوم تاخير او ځنډ پرته دي خپل عسکر ور وغواړي او دافغانستان امنيتي، سياسي او اقتصادي چارې دي پخپله افغانانوته په واک کې ورکړې څو هغوی پخپلو منځوکې سره کيني او په هيواد کې دامنيت اوثبات راوستو لپاره يوبل ته دوروی لاسونه ورکړي

تردې پورې چې د اوسني کابل رژيم په تنه کې هم د چادون نښې رابرسيره شوې دي د کم شمير غرب پلوو ګوډاګيانو پرته نوريې په دې باوري شوي دي چې څو پورې يرغلګر بهرني ځواکونه وتلي نه وي ترهغه پورې افغانستان کې رښتينی امنيت وثبات نشي راتلی هغوی هم ضروري ګڼي چې امريکا دې نورخپل پوځي شتون نه غځوي بلکې د کړې ژمنې سره سم دي پاته عسکر وباسي اوکه بياهم امريکا د دوکې او چلاکۍ نه په کاراخيستو ترټاکلې نيټې عسکر ونه ويستل اودعسکري شتون دبيا غځولو جسارت يې وکړ دابه دامريکا لپاره په راتلونکي کې بدعواقب ولري او د داسې وضعيت سره به يې مخ کړي چې په ټول بشري تاريخ کې به ساری و نلري نو ښه داده چې دالويه اشتباه تکرار نکړي او د تيرشل کلن اشغال د بدو پايلوڅخه سبق واخلي.

همدا دې وخت دی لږ فکر وکړه!

حسن زوی

الحمدلله مورږ مسلمانان اوبیا هغه افغانان یو چې ټول مسلمان ملت راباندې ویاړي او پرځای ویاړي.

زمورږ قاطع اکثریت هغه کلک مسلمانان دي چې شریعت، دشریعت احکامو، شعائرالله، رجال الله اولیاءالله، دالله کتاب او درسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو ته دومره دقدر په نظر ګوري چې ترې سل ځل ځان جارول خپله خوش نصیبي ګڼي.

له شرعي قانون پرته بل هیڅ ته ندي تیار نو ځکه په تېرو ۴۰ کلونو کې څه هم ګڼ بې دینه حاکمان هم راغلل خو یو هم یومخ د قانون بدلولو جرأت ونه شو کړای.

خو یوه خبره باید ومنو چې دبې دینه حاکمانو دحاکمیت پر مهال د خلکو او خصوصاً ځوان کول د اذهانو دتخریب؛ دعقایدو د تضعیف او داخلاقي فساد خپرولو دپرې هڅې شویدي چې له بده مرغه دې هڅو د دوئ لپاره مثبتې پایلې هم لرلي دي.

اوس د صلیبي یرغلګرو نه پس چې زمورږ دځوانانو دبې دینه کولو هڅې دپرې تېزې وې نو نو اثر یې هم زیات دی؛ بې باکي او سپین سترګي په ځوانانو کې دېره زیاته شویده؛ دېر ځوانان لیدل کېږي چې په خپلو اظهاراتو کې ځانونه آزاد ګڼي؛ له ځرګندونو یې داسې ښکاري لکه چې په خبرو کې ځانونه دشرعي اصولو مکلف نه ګڼي؛ د دېرو له ځرګندونو داسې ښکاري لکه د لمونځ روژې پرته چې نور مکلفیت نه لري او په ژوند کې نور مکمل آزاد وي نو ځکه دې ته نه ګوري چې کومې خبرې له خولې راوویستل شي او له کومو خبرو دډه وشي.

که خبره د سمتي، قومي او ژبنیز تعصب یا دخپل ګونډ او خپل لیدړ نه دحمایت او دفاع وي نوپکې تر ټولو حدودو تېرېدل دځان حق بولي خو که د دین او شریعت نه د دفاع خبره وي نو بیا همدا ځوانان اخرس شیطانان وي.

که بالفرض یو لوی دیني عالم سپی له زنځیر نه نیولی په کوڅه کې یې تېروي نو پسې به دټولو خولې وازې وي او (بې له دې چې ځان ته معلومه کړي چې هسې یې شوقاً ساتلی که د کلا یا رمې د څوکې لپاره یې روان کړی؟) وایې به چې دا دومره لوی عالم او په کوڅو او لارو کې دسپي ګرځول؟!

خو که دهمدې ځوانانو لیدړ له ځان نه سپی جوړ او دشریعت د احکامویا حاکمیت پسې غېبرې نو بیا چوپه خوله وي او ځان داسې ګڼي چې دده سره ددې خبرې هیڅ تړاو نشته.

دا خبره مې ځکه وکړه چې څوورځې وړاندې مې داشرف غني دخبرو یو کلپ واورېدلو چې پکې هغه یوې غونډې ته خبرې کوي او وایي: دې ته اړتیا نه لرو چې فکر وکړو څه وخورو او څه ونه خورو؟ او کوم شی حلال اوکوم حرام دی؟

همدا راز مې د اشرف غني د اوقافو وزیر قاسم حلیمي دخبرو یو کلپ هم واو رېدلو چې پکې نعوذ بالله من ذلک د طالب په دین لعنت وایي.

دا کفري کلمات د ولسمشر او د اوقافو د وزیر له خولې نه راوتي دي او چرته په بندې خونې یا خصوصي مجلس کې نه بلکې هر یو ته ګڼ خلک ناست دي؛ کامره ورته مخامخ ده چې دا داسې ده لکه ټول ملت ته چې وینا کوي.

ما ویل دا د حق آواز پورته کولو او دباطل د ردولو او په مقابل کې یې د ودرېدلو ډېره مهمه او اړینه موکه ده نو په رسنیو کې ټول فعال ځوانان به د ديني حمیت اوغیرت نه ټولې دوستۍ او دښمنۍ قربان او په یوه خوله به د دې دواړو دغپا پرضد راپورته او یو هېواد شموله احتجاج به رامنځته شي تر څو دوئ دواړه استعفا یا لرې تر لرې له ټول ملت نه بښنې غوښتنې ته اړ شي خو متأسفانه چې دلته د دې فعالو ځوانانو فعالیت تر سترګو نه شو او نه هم داسې قوي احتجاج رامنځته شو چې هیله یې کېدله.

شریعت مورِ ته د ویلو صحیح وخت، مقام مقدار او څرنګوالی را ښولی دی؛ په ټولو چارو کې دشریعت د اصولو پیروي د هر مسلمان مسئولیت دی.

نو دهغه خلکو حال ډېر د تأسف وړ دی چې الله تعالی ورته دخبرو استعداد ورکړی وي؛ دچا په تائید یا تنقید کې خو له ټولو حدودو تېرېږي؛ قومي ژبنیز او سمتي تعصباتو ته لار برابروي او چې کله د دین نه د دفاع دحق او صداقت دتائید او دباطل د سرکوبولو وخت راشي نو بیا چوپه خوله وي.

دکابل اداره او پلویان یې دعوې کوي چې د دولت قانون یې اسلامي دی.

هو! مورِ هم منو چې دکاغذ پر مخ قانون اسلامي دی؛ چې ترکي، امین، کارمل او نجیب کفري نکړای شول نو اشرف غني دچا بچی دی چې کفري به یې کړای شي؟

خو یواځې دکاغذ پر مخ د لیکلو له املې نظام او قانون اسلامي کېدلې نه شي تر څو چې عملاً اسلامي شوی نه وي.

په کابل کې ناست هغه تن چې ځان دافغانستان قاضي قضاة بولي ولې حلیمي او اشرف غني نه راغواړي او ددې کفري کلماتو په باره کې ورنه استفسار نه کوي؟

او په ولسي او مشرانو جرګو کې ناست خلک که رښتیا هم دخلکو نمایندګان وي نو ولې دا دومره لویه خبره له نظره غورځوي؟

مورِ مسلمانان یو؛ اسلام دمنلو او دشریعت احکاموته دسرښکته کولو نوم دی؛ زمورِ عقیده ده چې تحلیل او تحریم یانې څه شی حلالول او حرامول یواځې او یواځې دخالق کار دی؛ پېغمبرانو ته هم الله تعالی دتحلیل او تحریم اختیار ندی ورکړی؛ پېغمبران د الله له لورې دوئ ته دشوې جلي او خفي وحیې په اساس حرام او حلال خلکوته بیانوي؛ له خپل لورې تحریم او تحلیل نه کوي.

د پسه او نورو حلالو حیواناتو غوښې خوړل او دخنزیر او نورو حرامو حیواناتو نه ځان ساتل او په

ټول ژوند کې دحرامو او حلالو ترمنځ تمیز او تـوپیر زموږ داسـلام او ایـمان نښـه ده؛ پـه همـدې کـې مـو کامیابي ده؛ په همدې کې مو خیـر او خوشـالي ده او همدا انسانیت دی.

څه باید وخورو او څه ونه خورو؟ څه روا او څه ناروا دي؟ همدا د انسانیت یوه نښه ده؛ چا کې چې دا نه وي نو دا بې له شکه چې دځنګـل وحشي ـ ځنـاور دی خو فقط پښې یې دوه دي.

امریکا قصداً او عمداً د اشرف غنـي پـه څېـر د دوه پښو ځناور د کابل پر واک مسلط کړيـدي ترڅـو دا غریب، مظلوم، افغان ملت د هر اړخیـزو مشـکلاتو اونـاخوالو ښـکار وي او خوښـي او ښـه حالـت پـه سترګو هم ونه ویني.

همدوئ چې دحلالو او حرامو تر منځ تـوپیر نـه پېژني او نه ځان دې ته اړ بولي آیـا ټـول افغانسـتان یې لوټ نکړ؟

دوزارت مالیې سرپرست په پارلمان کـې وایـې: په ټول هېواد کې له ګمرکاتو د ورځې ۸ ملیونه ډالـر دولتي مسئولین غلا کوي؛ له ارګه تـر پارلمانـه ټولـو چارواکو په ګمرکاتو کې خپـل کسـان ګومـارلي دي او دا پیسې غلا کوي.

یواځې د ګمرکاتو له لارې د غریب ولـس نـه دا دومره ستره غلا؟!

دا ډېره لویه غلا ده؛ دا دمیاشتې ۳۲۰ ملیونه او د کال ۲زره ۸ سوه او ۸۰ ملیونه ډالر کېږي؛ که همدا روپۍ نه غلا کېدای او دملـت اړتیـاوې پـرې پـوره کېدای اوس به په افغانستان هیڅوک غریب نـه وای پاتې؛ پدې پیسو په لسګونو دبرق بندونـه، کانالونـه، هوائي ډګرونه پوهنتونونه لوی سرکونـه اولـوی لـوی روغتونونه جوړېدای شول.

د هـر افغـان مسـلمان مسـئولیت دی چـې ددې لاسپوڅو، پردي پـالو، مفسـدینو، غلـو لوټمارانـو او د اسلامیت او افغانیت د دښمنانو پرضـد راپورتـه شي؛ دخـولې، قلـم اولاس لـه لارې د دې مفسـدو پلیتـو عناصرو پر ضد جهاد کې خپله وندې واخـلي او ددوئ د شرونو نه دملت په خلاصون او د سپیڅلي شریعـت په عملي کېدو کې خپله وندې واخلي.

دکابل اداري لپـاره کارکونکیـه وسـلواله! سـتا لپاره ډېر دفکـر مقـام دی؛ تـه هـم خـور، ورور، مـور اوپـلار لـرې؛ سـتا بـه هـم ښـځه او بچـي وي چـې دربانـدې سـخت دردېـږي؛ تاخپـل سر او وینـه ولـې دومره بې ارزښـته کړيـدي؟ تـه چـې دمجاهـدینو پـه مقابل کې جنګېږي ته د چا او څه شي نه دفاع کوې؟

د واشنګټن، نیو یارک او ددغسې مفسدینو نـه چې هره ورځ یواځې دګمرکاتو نه ۸ ملیونه ډالـر غـلا کوي؛ ته د دوئ لپاره دسر او وینـې قربـاني ورکـوې خو دوئ ستا دمیاشتني معاش او اعاشې دو هلـو پـه فکر کې وي او چې کله پرې حلقه راتنګه شي بهرنـو هېوادونو ته به ځي اوتابه همداسې پـه خـالي میـدان پرېږدي.

لږ پدې فکر وکړه چـې سـتا جنـګ تـا تـه، سـتا آخرت، ستا ملت او ستا هېواد ته څه ګټه رسوي؟

که دې یو تـه هـم ګټـه نـه رسـوي نوهمـدا دې وخت دی؛ جرأت وکړه! په خپل ځان او خپلې کـورنۍ رحم وکړه! د دې خاینانو او مفسدینو نه خپله لار جدا کړه! خپله دنیا او آخـرت دخسـران اوخپـل تـاریخ لـه بدنامۍ نه وساته! همدا دې وخت دی لږ فکر وکړه!

هو! مسلمانان!

اسراييل ننکولی شي... خو...!!

بشیر

فلسطین کې یوځل بیا مسلمانان د صهیونستانو لخوا دسترو وحشتونو ښکار ګرځیدلي دي، غزه باندې د اسراییل د هوایي اوزمکنیو وحشیانه بریدونو په وجه په زرګونو فلسطینیان په وینوسره لړلي پراته دي او داسې ښکاري چې د اسراییل غاصب رژیم په فلسطین کې دازادي غوښتونکو مسلمانانو د پوره ځپلو قوي هوډ کړی دی، اوپه دې کارکې د پخوا په څیر ورته دغربي هیوادونو خصوصاً د امریکا ملاتړ حاصل دی.

د فلسطیني ولس یواځینی قصور دادی چې هغوی مسلمانان او د فلسطین اوسیدونکي دي او د خپل حق نه لاس په سرکیدونکي ندي او د دې لپاره په پرلپسې توګه بیدریغه قربانۍ ورکوي.

له نن څخه نیږدې یوه پیړۍ وړاندې د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر «بالفور» فلسطین د یهودانو د ملي وطن په توګه اعلان کړ او د نړۍ د مختلفو هیوادونو څخه یې ورته یهودان راوستل او پکې میشت یې کړل، په دې کار سره برتانیې او امریکا دواړو نه یواځې انساني اصول او اخلاقي مقرارات ترپښولاندې پایمال کړل بلکې په پوره توګه یې د اسراییلي وحشت خوروونکي کردار سرپرستې هم وکړه، تردې پورې چې د دوی په اشاره ملګرو ملتونو د فلسطین ویشلو او فلسطینیانوته د جلا هیواد او اسراییلیانوته د جلا هیواد ورکولو ژ منه وکړه، خودا هم په حقیقت کې هسې د فلسطیني مسلمانانو د تیرایستلو او دوکه کولو یوه هڅه وه، مغربي هیوادونه دامریکا په مشرۍ کې داسراییل نه کلک ملاتړ کوي او د ملګرو ملتونو دژمنو اوپریکړه لیکونو پروا نه ساتي او تردې مهاله یې دفلسطین یوه لویشت نیول شوې خاوره هم نده پرې ایښې.

د لومړي نړيوال جنګ وروسته چې کله برتانيې د منځنۍ ختيځ دننه د نويو کوچنيو، کوچنيو هيوادونو د رامنځته کولو ګام پورته کړ نو لوی هدف يې د«بالفورټرون» پلي کول وو، برتانيې ترهغه پورې هلته خپل اشغال او سلطه قايمه وساتله څو يې چې د نورې نړۍ څخه په لوی شميرکې يهودان رانه وستل اوپه فلسطين کې يې ميشت نکړل او د فلسطين خاورې ويش ته يې عملاً لارهواره نکړه.

کله چې په منځني ختيځ کې د ملګرو ملتونو لخوا د فلسطين ويشلو پريکړې په ترڅ کې د اسراييل په نوم يهودي ـ صهيوني هيواد رامنځته شو، بيا ايله برتانيې خپل اشغال پای ته ورساوه او پخپل ځای يې د اسراييل د سرپرستۍ دنده امريکا ته وسپارله، په امريکې او برتانيې علاوه داسراييلي دولت په اړه د پلان په عملي کولو کې اروپائي ټولنه او روسيه هم همکاران وو.

ملګرو ملتونو فلسطين وويشه د« فلسطين او اسراييل» په نوم يې دوه جلا هيوادونه رامنځته کړل او هم يې د دواړو لپاره پولې تعين کړې، که څه هم د دې ويش په اړه داسلامي هيوادونو دننه دوه جلا رايې شتون لري د افغانستان، پاکستان او سعودي عربستان په ګډون اکثريت اسلامي هيوادونو د فلسطين ويش ندی منلی اونه يې اسراييل د جايز هيواد په توګه په رسميت پيژندلی دی خو مصر، اردن او وروسته ځينو نورو هيوادونو دغه ويش رسماً ومانه او اسراييل ته يې د يوقانوني هيواد حيثيت ورکړ بلکې په دې لړکې پخپله د حماس او الفتح رايې اولارې هم د يوبل نه جلا او تړډيره سره په ټکر کې دي الفتح ګوند د يته اماده دی چې اسراييل د يو ګاونډي هيواد په توګه ومني خو حماس بيا اسراييل غاصب بولي او پخپل ګاونډ کې يې له منلو څخه انکار کوي.

اوس خبره داده که بالفرض د ملګروملتونو فيصله معقوله وې او منل يې هم ضروري وې نوبيا پکار وه چې د ملګرو ملتونو د پريکړې سره سم فلسطين هم د ازاد هيواد په توګه منل شوی وای، اوس د نړۍ په نقشه کې فلسطين له سره وجود نلري، يواځې د ښاروالۍ چارو تنظيمونکی سيستم يا اداره لري او د هغې په وجود سره د فلسطين خلکوته دوکه ورکوي چې ګواکې فلسطين ځانته جلا هيواد او حکومت لري، بله داچې اسراييل مسلسل لګيا دی هغه پولې او حدود پايمالوي کوم چې د ملګرو ملتونو د پريکړې له مخې د دواړو هيوادونو ترمنځ رابنکل شوي دي اوپه دې علاوه د اسراييل غاصب رژيم د تيرې نيمې پيړۍ څخه د فلسطين ځيني مهم ښارونه اشغال کړي دي چې په هغوکې د بيت المقدس ښار هم دی چې اسراييل قبضه کړی دی اوهيڅوک هم داسراييل له منګولو څخه دهغه دژغورلو کوښښ نه کوي.

کوم خلک چې اسراييل مشروع حکومت نه مني مونږ هم دهغوی د دريځ پلوي کوو خو دسيمې

حالاتو ته په کتو سره ځینې کارپوهان وایي: د فلسطین د ویش کومه پریکړه چې ملګرو ملتونو کړې ده دهغې دوه مهمې تقاضې دي: یوه داچې ربښتیا باید فلسطین دیو داسې مستقل، ازاد هیواد په توګه جوړ شي چې د هرډول خارجي لاسوهنو څخه پاک وي

دوهم: د ملګرو ملتونو لخوا دتعین شویو حدودو اوپولو د ړنګولو وروسته چې اسراییل د بیت المقدس ښار په ګډون د فلسطین کومې سیمې اوښارونه نیولي دي هغه دي سملاسي تخلیه کړې او بیرته دي فلسطین ته وسپارل شي دلته یوه نکته د پام وړده هغه داده چې اسراییل په بیت المقدس ښاربانديې په قبضه کولو سره د مصر، شام اردن او لبنان پولې هم ګوابلې دي او د ملګرو ملتونو نړیواله ټولنه پرلپسې دامریکا او اروپا لخوا دلاس پوڅې اداړې په توګه استعمال شوې ده.

د فلسطیني اداړې په ځای د خپلواک فلسطیني هیواد رامنځته کیدل، اسراییل د نړیولو پولو نه بیرته اوښتوته اړکول په اصولي توګه طی کړای شوې خبرې دي چې ورسره هیڅ شعور لرونکی انسان اختلاف نلري خو پوښتنه داده چې د نړۍ ابرقدرت هیوادونه په خاصه توګه امریکا ولې اسراییل په شاټپوي چې پښې کلکې کړه او د فلسطیني وګړو وژلوته دوام ورکړه! هغوی ولې په نړۍ کې لکونه مظلوم فلسطیني وګړي مهاجر کړي دي او داسراییل د ښکاره جارحیتونوڅخه خوندونه اخلي.

خوپر دې سربیره ترټولو لویه غمیزه داده چې اسلامي نړۍ په خاصه توګه عربي نړۍ فلسطینیان داسراییل رحم وکرم ته پرې ایښي دي اسلامي هیوادونوته خپلې کورنۍ ستونزې ښکاري او دهغو د مخنیوي لپاره هرډول ګامونه پورته کوي خو د فلسطیني مسلمانانو دستونزو او مشکلاتو کمولوپه اړه ادراک نلري دشک پرته که اسلامي هیوادونه یو شي او ټول په یوغږ اویوقوت سره داسراییل پخلاف راپورته شي اوپه مقابل کې یې یو دجرئت څخه ډک دریځ غوره کړي نو هیڅکله به اسراییل دامریکا د ملاتړ باوجود د مسلمانانو دمقابلې تاب رانه وړي اوخامخا به دیته اړکېږي چې د فلسطین خاوره خوشي کړي.

هو! د غزې او فسطین روانې ناخوالې او غمیزه یو ځل بیا نړۍ او خصوصاً د اسلامي هیوادونو واکمن وحدت ته ور بولي او په دې خبره باندې دغور بلنه ورکوي چې هغوی دي په سړو مغزو کیني خپلمنځي نفرتونه او اختلافات دي له منځه یوسي او په نړۍ کې دمظلومو مسلمانانو په حالت د رحم کولو لپاره دي د یوبل مټ وبازو جوړشي په خاصه توګه د فلسطین غمیزې په وړاندې یوځواک کیدل د اسراییل پخلاف وسله پورته کول او ورته د لوټې د ګذار ځواب په کانې ورکول د مسلمانانو دغمیزې پای دی چې بیا اسراییل هیڅ یو فلسطیني مسلمان ته په خیرنو سترګو ونشي کتلی!

هو! که مسلمانان راپورته شول

لحظاتی در سنگرهای چخانسور

سهیل مبارز

مدت‌هاست که کتاب‌های مختلفی که در رابطه با جهاد نوشته شده‌اند را بالا و پایین می‌کنم؛ با زیر و رو کردن این نوع کتاب‌ها، نکته‌ای عایدم گشته که دوست دارم آن را با خوانندگان عزیز، ملت غیور و مجاهدین در میان بگذارم. نکته‌ای که می‌توان گفت: تمامی کتب جهادی بر آن اتفاق داشته و از نظر کم‌تر نویسنده‌ای غایب مانده است. هر نویسنده ابتدا تنها کاری که می‌کند، جهاد را از نظر لغوی تعریف می‌کند و می‌نویسد: جهاد در لغت، جهد، تلاش، سخت‌کارکردن و کوشش کردن، بعضی از نویسندگان نتیجه را مدنظر گرفته و می‌نویسند: پریشانی، دغدغه و سختی.

آری! شاید آنانی‌که وارد سنگرهای جهادی نشده‌اند و از حالات آنجا خبر ندارند، مجاهدین را مرفه‌ترین انسان‌ها بدانند، و شاید از روی آرامش و اصلاح‌قلبی که خداوند متعال وعدهٔ آن را به مجاهدین داده، گمان‌شان را سمت وسویی دیگر بکاشند، اما حقیقت امر آن‌ست که تقریبا اکثر مجاهدین با ورود شان در صفوف جهادی، متحمل سختی‌هایی می‌شوند که کم‌تر انسانی تاب و توان تحمل آن‌ها را دارند.

در سنگرهای چخانسور، حالات بعضی از مجاهدین و قربانی‌های آنان، بسیار مرا متعجب کرده و غبطه‌خوران قرار داده بود؛ به‌نحوی‌که حتی آزمایش از طریق

خانواده و فرزندان، که طبق حدیث رسول اکرم صلی‌الله‌علیه‌وسلم بزرگ‌ترین موانع در مسیر جهاد هستند، آنان را سرپا نگه‌داشته و به میادین جهاد کشانده بود.

مجاهدی که حضور آن در سنگرهای چخانسور ضروری‌ست، شاید نزدیک به شش‌ماه، دوری از خانواده، اهل و عیال، و حتی از دیدن فرزندان معصومش سر باز زده و خود را وقف میدان جهاد نموده است و شبانه‌روز انواع زحمات را متحمل می‌شود، تا یک‌وجب از خاک افغانستان را به بیگانه ندهد.

جوانی که یک هفته بیش‌تر از خوانده شدن خطبهٔ نکاحش نگذشته است، اما با صراحت و وضاحت تمام، خود را جان‌فدای خداوند متعال اعلام می‌کند و به میادین جهاد می‌رساند.

یا پدر جوانی که عشق و علاقهٔ شدید وی به فرزندش، او را وادار می‌کند که همواره از فرزندش بگوید و بتواند از طریق واتساپ صدایش را بشنود و یا هم عکسی از او دریافت کند.

در این میان هستند مجاهدینی که قلب‌شان برای سرزمین مادری‌شان می‌تپد، هر لحظه از منطقهٔ خود می‌گویند و در فضای مجازی، از آن می‌جویند، اما نمی‌توانند حتی برای لحظاتی آن را ببینند.

در این سنگرها، بودند جوانانی که لحظه‌شماری می‌کردند تا هدیهٔ خداوندی که در واقع همان فرزندی باشد که برای تولد آن زمان زیادی باقی نمانده است را ببینند، اما ماندن در میدان جهاد را بر تمام منافع و رفاه شخصی ترجیح داده و سنگر را انتخاب نموده‌اند.

و انواع و اقسام فداکاری‌ها که حافظه و مجال یاری نمی‌کند تا به ذکر آن‌ها بپردازیم.

شاید تمامی پدران و سرپرست‌های خانواده‌ها در سنگرهای چخانسور، به این نتیجه رسیده باشند که اگر آنان مسیر جهاد را انتخاب نکنند و برای دفاع از ناموس و سرزمین خود نجنبند، پس چه کسی این مسیر را انتخاب کرده و جهاد خواهند کرد!؟

به گفتهٔ یکی از دوستان و اساتید بزرگوار؛ مطمئنا تمام این حالات و سختی‌ها، دلایل روشنی برای قبولیت این قوم هستند؛ و الا نصرت‌هایی الهی را نمی‌توانستیم مشاهده کنیم.

و این را نیز مدنظر داشته باشیم که خداوند متعال پاداش محسنین را ضایع نخواهند کرد.

إن شاء الله الرحمن

د اقصی جومات کیسه!

م عبدالله طیب

مسجد اقصی د مسلمانانو لومړۍ قبله ده، چې له خانه کعبې او مسجد نبوي نه وروسته دریم مقدس مقام دی، کوم چې مسلمانان ورته په زړونوکې ستر قداست او درناوی لري.

کله چې ادم علیه السلام د الله تعالی امر پرځای کړ او خانه کعبه یې ودانه کړه، بیا هغه ته الله تعالی د فلسطین ځمکې ته د سیر (تللو) حکم وکړ، هغه چې کله ورسېد، سمدلاسه یې د اقصی جومات جوړ کړ، نو مسجد حرام لومړی او مسجد اقصی د الله تعالی دویم کور دی چې په ځمکه کې ودان شوي. اقصی ورته ځکه وایي چې له مسجد حرام څخه لږ دی.

په صحیحینوکې له ابو ذر غفاري رضي الله عنه څخه روایت راوړل شوی، هغه فرمایي: ما وویل: اې د الله رسوله ! په ځمکه کې اول کوم مسجد جوړ شوی؟ هغه وفرمایل: مسجد حرام، ما وویل: بیا کوم؟ هغه وفرمایل: مسجد اقصی، ما وویل: د دواړو ترمنځ څومره موده وه؟ هغه وفرمایل: څلویښت کاله.

مسجد اقصی د یهودو له پیدائښت څخه مطلقاً مخکې جوړ دی او د ټولو انسانانو لپاره عبادتګاه او معبد دی، یوائې د یهودو لپاره خاص نه دی، کله چې په ځمکه کې طوفان راغی او نوح علیه السلام له خپلو ملګرو سره په کشتۍ کې سپور شو، کوم خلک چې پاتې شول، له هغوی څخه د مسجد اقصی ځای ورک و، تر هغې چې الله تعالی بیا ابراهیم علیه السلام ته لارښوونه وکړه او ځای یې ورته ورښود، نو هغه د کعبې ودانولو نه وروسته فلسطین ته مخه کړه او مسجد اقصی یې بیا تجدیدکړ، د بیا تعمیر نه زرکاله وروسته، داوود علیه السلام خپل ځوی سلیمان علیه السلام ته وصیت وکړ چې مسجد

اقصی له سره تعمیرکړي، بیا مسجد تر هغه ودان و، چې بُخْتِنَصر ویجاړکړ.

پېغمبر صلی الله علیه وسلم د اسرا او معراج سفرکولو پر وخت له مسجد حرام څخه مسجد اقصی ته په بُراق باندې سفر وکړ او بیا ټولو انبیاوو ته د جمعې او امامت ورکولو وروسته له همدې ځایه د اسمانونو په سفر روان شو، د قرآن کریم په سورت اسراء کې الله تعالی داسې فرمایي: پاکي هغه ذات لره دی، چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد حرام څخه تر هغه لرې (اقصی) مسجد ته بوته، هغه چې مو ږ یې چاپیریال برکتي ګرځولی، ددې لپاره چې خپلې نښانې وروښیو، په حقیقت کې هماغه (الله جل جلاله) د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی.[الإسراء: ۱]

نو مسجد اقصی یو قرآني نوم دی او اسلام نه مخکې ورته بیت المَقْدس یا المُقَدَّس ویل کېده، یعنې سپېڅلی کور.. پدې معنا چې هلته د ګناهونو پاکوالی راته او إیلیا یې هم باله، کوم چې په حدیث کې ذکر شوی، إیلیا د بني اسرائیلو د یو پېغمبر نوم و. د نبي علیه السلام په دورکې چا په هغې کې لمونځ نه کاوه، ځکه چې نصاراوو ویجاړکړی و، خو د مسجدوالي حکم یې په خپل ځای پاتې و.

مدینې ته د هجرت نه وروسته نړۍ تر ۱۷ میاشتو پورې مسلمانانو د مسجد اقصی په لور لمونځ کاوه، بیا آیتونه نازل شول او د قبلې د تحویل حکم وشو، د مسلمانانو قبله بیت الله شریف (کعبه) وګرځېده.

مسجد اقصی د فلسطین په مشرقي سمت کې واقع دی، کومه چې اسرائیلي اشغالګرو په زور سره نیولې. دا د فلسطین په خاوره کې ترټولو ستر جومات ګڼل کیږي چې له شمال نه ترجنوب پورې تقریباً ۴۹۰ متره دی، او په پلنو شرق نه غرب ته نږدې ۳۰۰ متره دی، ټول مساحت یې تقریباً ۱۴۴۰۰۰ متره کیږي، په دننه حصه کې تر پنځه زره زیات لمونځ کوونکي پکې ځایېږي او د مسجد بهر په برنډه کې هم زرګونه تنه خلک په یو وخت کې لمونځ کولای شي.

په نبوي احادیثوکې د دریو جوماتونو ته د عبادت لپاره سفرکولو فضیلت راغلی، مسجد، حرام، مسجد نبوي او مسجد اقصی. کله چې موسی علیه السلام وفات ته نږدې شو، نو الله تعالی څخه یې وغوښتل چې کومې پاکې او سپېڅلي ځمکې (الأرض المقدسة) ته یې نږدې کړي، امام نووي رحمه الله فرمایي: (اما د هغه لخوا چې سپېڅلې ځمکې ته د نږدې کېدو غوښتنه وه، هغه ددغې ځمکې د پرتم او شرف او هم هلته د خښو پېغمبرانو د فضیلت له وجې وه).

د سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه په دور کې مسلمانانو چې بیا بیت المقدس فتحه کړ، نو هغه له ښار څخه د تللو په وخت کې صخره (زرینې ګنبدې) او د براق د ټرلو ځای ترځنګ د جومات د ودانولو حکم وکړ، هغه ځای کې چې

هغوی لمونځ اداء کړی و، همدې جومات ته مسجد اقصی وایي، ځکه چی اقصی ورته قرآن کریم کې ویل شوي و.

په دغه زمانه کې ډېرو صحابه و همدلته د اسلام ته د بلنې او د دین خپرولو لپاره واړول، د وخت په تېرېدو سره د خلیفه عبدالملک بن مروان په امر سره د مسجد بیا ودانولو پیل وشو او د هغه ځوی ولید بن عبدالملک پای ته ورساوه او ورسره تزیین او سینګار یې هم وکړ. د عباسي خلیفه ابوجعفر منصور په زمانه کې زلزلې د مسجد ځینې برخې ونړولې، چې بیا هغه بیا له سره ودان کړ.

کله چې صلیبیانو بیت المقدس په لومړي ځل ونیو، نو په هغې کې یې د استوګنې لپاره ډېرې خونې جوړې کړې، نوم یې ورته معبد سلیماني کېښود او د مسجد اقصی لاندې برخه یې د آسونو اصطبل وګرځوله، ځاروي به یې پکې ودرول، په مسجدکې یې ډېر زیات رد او بدل وکړ.

په ۵۸۳ هجري او ۱۱۸۷میلادي کال چې کله صلاح الدین ایوبي رحمه الله بیت المقدس فتحه کړ، نو هغه د صلیبیانو ټول تغیرات اوګنډګۍ له منځه یووړې ، مسجد او محراب یې بیا له سره جوړ کړل، هغه د اقصی د ازادولو لپاره ۱۶ خونړۍ جګړې وکړې او بالاخره هغه د اسلام لومړۍ قبله د صلیبیانو د نجس وجود څخه پاکه کړه او مسجد اقصی یې په پخواني شکل یوځل بیا تعمیر کړ.

د مسلمانانو خلاف د یهودو مکر او فریب له هیڅا پټ نه دی، تاریخ ثابته کړې چې هغوی تل د انسانیت خلاف بالخصوص د مسلمانانو خلاف دښمنانه چلند غوره کړی.

کله چې مدینې ته د نبي علیه السلام هجرت وشو، څومیاشتې بعد، هغه صلی الله علیه وسلم یهودي قبائلو سره د میثاق مدینې په نوم د امن ، مساوي حقوقو او مدینې څخه د دفاع تړون لاسلیک کړ، مګر هغوی ډېر ژر مسلمانانو سره کرکه او نفرت او هم یې د ختمولو لپاره هلې ځلې پیل کړې، د مکي قریشو او شاوخوا نامسلمانو قبایلو سره یې پټې دسیسې جوړې کړې خو الله تعالی هغوی ډېر ژر رسوا کړل، په مدینه کې استوګن قبایل بنو قریضه، بنو قینقاع بنو نضیر، د خپل عادت سره سم د غدر او خیانت سره د عهد ماتولو له وجې څه ووژل شول او څه پسې واخیستل شول، نبي علیه السلام صحابه کرامو ته وویل: أخرجوا الیهود من جزیرة العرب. یهود له عربي جزیرې وباسئ!

څو پېړۍ مسلمانان د هغوی له شره خلاص شول، مګر دا چې مقوله ده: (الکفر ملة واحدة) کفر ټول یو ملت دی، دغه دښمني تل صلیبیانو وپالله، د شلمې پېړۍ دویمې نړیوالې جګړې وروسته چې لویدیځ د یهودو له شرارت او رذالت څخه په تنګ راغی، نو بریطانیه چې په شیطانت

کې له یهودوکمه نه وه، د اروپا له مختلفو ښارونو نه د یهودانو په راټولو سره د فلسطین غیږې ته ور واچول ترڅو له یوې خوا دوی یې له شره خلاص وي او بل خوا د مسلمانانو او اسلامي نړۍ لپاره سرخوړی وي.

په ۱۹۴۸ م کال د اسرائیلو قیام نه وروسته تجاوزګرو یهودو د فلسطین مسلمان بیچاره ولس له هغو ځمکو چې دوی ورکې له زرګونوکاله آباد و، په ډېر ظلم سره وویستل او د کمپونو تریخ د بې وسۍ او بې کسۍ ژوند ته یې مجبور کړل.

په ۱۹۶۹ کې اګست میاشت کې یو فرانسوي الاصل یهودي ډینټ مایکل روحان مسجد اقصی ته اور واچوه چې درې ساعته مسلسل د اور په لمبوکې پټ و، د مسجد جنوب ختیځه څنډو څخه ډېره برخه ولوېده اوکوم منبر چې صلاح الدین ایوبي رحمه الله د بیت المقدس له فتحې وروسته محراب کې ایښی و ، هم وسوځید.

یهود پدې عقیده دي چې مسجد اقصی په یهودي عباتګاه (هیکل سلیماني) باندې جوړ شوی، کوم چې روم په ۷۰یم میلادي کال وران کړی و، دا راز هغوی د مسجد اقصی ځای ته د هیکل غره نوم ورکوي، حالانکې دوی ددې لپاره هیڅ راز دلیل نه لري، دوی غواړي چې مسجد اقصی وران کړي او د دوی په اصطلاح هیکل سلیماني وربانديې جوړ کړي.

په همدې خبره یهودانو له اوو لسیزو راهیسې په مسلسله توګه د فلسطینیانو ځمکې غصب کړې او په خونړیو پېښو او جنګونوکې یې په لکونه مسلمانان شهیدان او زخمیان کړل او لکونه نور یې له خپلوکورونو وویستل، او نورو هیوادونو ته یې په هجرت کولو مجبورکړل چې تر اوسه سربداله او بې سرپناه د نورو خائنو واکمنانو رحمت ته پراته دي.

د ځمکو غاصب او غلاګر یهودي رژیم چې اوس کوم وحشت د غزې په خاوره روان کړی، دا د نیمې پېړۍ د وحشتونو د لړیو یوکړۍ ده چې پدې کې د امریکا او لویدیځ کفري اتحادیې ملګري ملتونو لاس ورکړ دی، هغوی تل د مظلومو فلسطیني مسلمانانو وژلو، ربړولو او بمبارولو ته حمایه کړي، هم یې پیسې او هم یې وسلې ورکړي.

اوس چې ټول لویدیځ ، امریکا او ملګري ملتونه د هغوی ظلم او استبداد په رنو سترګو ګوري، هیڅ یې په زړونوکې رحم نه راځي، د بشري حقونو دروغجن دعوه داران سرچپه یهودو ته د دفاع د ازادۍ شعارونه ورکوي او لا د مسلمانانو د ځمکو غصبولو جواز او د ظلم دوام ته یې برابروي.

دا چې اقصی مسجد د مسلمانانو دی او د مسلمانانو د عزت او ناموس مسئله ګرځېدلې، یهود هیڅکله نه شي کولای چې اقصی په هیکل سلیماني باندې بدل کړي، خو دا چې اسلامي او عربي هیوادونو اکثریت حاکمان یهودو خپل غلامان ګرځولي او د اشغالګرو او غاصبو یهودانو

په خلاف له خولې سوې نه شي ویستلای ، دا ډېره د حسرت او افسوس خبره ده، پرلپسې دوه هفتې کیږي چې د غزې په ښار بمباریږ کیږي، تراوسه یو اسلامي یا عربي هیواد د صهیوني ظالم رژیم په خلاف نه غږ پورته کړ، نه یې خپلې اړیکې ورسره وشلولې.

کوم وخت چې صهیوني تجاوزګر د مسلمانانو جوماتونه په نښه کوي، په اقصی کې لمونځ کوونکي شهیدانوي او د سلګونو ښځو او ماشومانو وینې تویوي، همدغه وخت عربي خپټور چارواکي په رسمي سفر اسرائیلو ته ځي، ترڅو خپل روژه ماتی د یهودو په دسترخوان وکړي؛ دغسې بدبخته حاکمانو سره به آخرکله احساس پیدا کیږي چې د خپل مسلمان ورور څخه دفاع وکړي.

خو لله الحمد فلسطین لاهم مسلمان دی، هیڅکله صهیوني او یهودي کېدلای نه شي، د فلسطین هر ګڼری له اقصی څخه په دفاع کې قربانۍ ته چمتو دی، په زړه کې ورته ځای لري.

تاسې د غزې اوسیدونکو او داقصی مدافعینو ته ګورئ ، که د فلسطینۍ مور په مخکې خپل بچي وژل کیږي، خو هغه شکرونه باسي او وایي: فدا القدس ! فدا الأقصی! له قدس نه قربان .. له اقصی نه قربان.. یوځوان چې په اقصی کې پرلمانځه ولاړ دی، ویشتل کیږي، یوه سترګه یې لمنځه ځي، مګر هغه وایي: له أقصی دې ځار شم!.. له دا بلې سترګې هم ورته تېر یم.

د اختر لمونځ او د تکبیراتو غږونه د یهودانو په ړندو بمباریوکې خپ کیږي، مګر د اقصی څخه د ځارېدونکو همت نه کمزوری کیږي.. نه مړکیږي .. د هغوی غیرت او شهامت په ګونوکې لا څپېړانده شي.

د یهودانو مسلسل ړندو بمباریو سره سره د حماس سرښندونکو د اقصی په دفاع کې په صهیوني خروړو هسې رمباړې جګې کړې او د څپېړې وار یې په سوک ورکړ، د ۸۰۰ بمونو په مقابل کې ۱۸۰۰ توغندي ور وارکړل.

بالآخره هغوی د مسجد اقصی څخه په دفاع او سرښندنو سره صهیوني رژیم ته ثابته کړه چې اقصی اسلامي دی.. تل به اسلامي وي .. او هیڅکله به صهیوني او یهودي نجس وجود د فلسطین په سپیڅلې خاوره ونه زغمي..!! او هم یې عربو غلامو حاکمانو ته په پېغور پرښودلو سره وښودله، چې د اقصی دفاع یوازې مور وکړه او بس.. پای

فلسطین کې بشري قتل عام
او د نړۍ بې حسه بشر

حسن مومند

نن چې دا څو کرښې لیکم دمۍ میاشتې ۱۸مه نېټه ده؛ له معتبرو رسنیو نه په خپرو شویو خبرونو او راپورونو کې مې واورېدل چې د وحشي صهیونستي دولت له لورې پر غزې د روان وحشت په لړ کې پرون په ۱۰ دقیقو کې ۶۰ هوایي بریدونه شویدي چې پکې نور ۴۷ ولسي وګړي هم شهیدان شوي؛ د شهیدانو شمېر له ۲ سوه نه واوړېدلو چې پکې ۸۵ کوچنیان او ۳۴ مېرمنې دي؛ د ۳۶۶ کوچنیانو په شمول د ټپیانو شمېر له ۱۳ سوه نه اوړېدلی دی؛ او تر ۱۰ زرو پورې خلک دخپلو کورونو نه وتو ته اړ شویدي.

حماس او اسلامي جهاد هم له غزې نه د اسرائیلو په لود، ایشکیلون، ریشون، لیزوین نومي سیمو راکټي بریدونه کړیدي چې د اسرائیلي رسنیو له لورې د خپرو شویو معلوماتو له مخې پکې ۱۰ یهودان هلاک شویدي.

همدا راکټي بریدونه او پکې د ۱۰ یهودانو هلاکت داسرائیلو لومړي وزیر نتن یاهو د سرې کرښې نه دحماس تجاوز بللی دی او ورته یې په پوره زور د جواب ورکولو ګواښ کړیدی؛ ترڅنګ یې د ټول فلسطیني ولس نه دغچ اخستلو او ورته دعبرتناکې سزا ورکولو خبرداری هم ورکړیدی.

د روژې مبارکې میاشتې ۲۷ مه شپه وه؛ دمعمول سره سم مسجد اقصی ته نېه ډېر یانې له ۱۰۰ زره نه زیات مسلمانان راغلي وو؛ دسهار جمعه ولاړه وه؛ دکوم سبب او وجې پرته اسرائیلو ناڅاپه پر لمونځ کونکو ډزې پیل کړې؛ ډزې ورو ورو زیاتېدې خو دجمعې لمونځ نېه په اطمینان ادا کړای شو؛ دلمونځ ادا کېدو نه پس چې مسلمانان بیرون ووتل نو پرې وحشي اسرائیلي فوځیانو دکوتکونو ګوزارونه پیل کړل؛ مظلومو فلسطینیانو دخپلې دفاع لپاره له خپلو جانمازونو پرته په لاس کې هیڅ نه لرل؛ دکوتکونو بې رحمه ګوزارونه یې خوړل ټپیان

کېدل خو بيا يې هم د الله اکبر نارې پورته کولې.

دوه مسلمانان ځای پر ځای شهیدان او له ۳سوه نه زیات ټپیان شول.

۸ ورځې وړاندې په مسجد اقصی کې پر لمونځ کونکو مسلمانانو پیل شوی وحشت لا ندی تم شوی او ترځنګ یې د غزې پر عام ولس هم داسې هوایې بریدونه روان دي چې پر غزې د ۲۰۱۴م کال دسترې حملې راپدېخوا ساری نه لري او تر دې دمه یې یاده مرګ ژوبله رامنځته کړیده.

د فلسطین ولسمشرمحمود عباس د اسرائیلو ددې تازه وحشت په باره کې د امنیت شورى دبېړنۍ غونډې د رابللو غوښتنه وکړه؛ دترکې ولسمشر طیب اردګان د احتجاج ناره پورته کړه او دپاکستان لومړی وزیر عمران خان چې د سعوي په سفر و داحملې یې د سعودي نه وغندلې او د ملګرو ملتونو اداره نه یې د ژر ځېرنو غوښتنه وکړه.

له دوئ پرته داسلامي نړۍ بل یو مشر هم د دې وحشت پر ضد اواز پورته نکړ.

پر مظلومو فلسطیني مسلمانانو د وحشت تازه پېښې څه نوې او یواځنۍ ندي بلکې پېړۍ وړاندې د بالفورډ د اعلان او بیا دناقانونه غاصب اسرائیلي دولت د رامنځته کېدو نه پس د د وحشي صهیونستي یهودیانو له لورې پر مسلمانانو وحشت پیل شوی چې تر ننه دوام لري.

د نړۍ تاریخ دلویو ظلمونو نه ډک دی چې یې انسانان ظلم ګڼي او غندي یې خو دبالفورډ اعلان چې د معاصر تاریخ ډېر ستر ظلم دی لویدیځ یې لا هم ننګه کوي او د انصاف غوښتنه یې بولي ځکه چې دا اعلان دوئ کړیدی او یهودان چې په فلسطین کې دمسلمانانو په پرتله په اوړو کې مالګه هم نه وو دلویدیځ په لاس له ټولې نړۍ نه دلته نور یهودان راوستل شول؛ دلویدیځ په ملاتړ یې د فلسطیني مسلمانانو سیمې غصب او ترې یې مسلمانان وویستل او دهمدې لویدیځ له لورې یې غاصب اسرائیلي دولت په رسمیت وپېژندل شو او د مصر، لبنان، شام او اردن له لورې داسرائیلو پر ضد په رامنځته شویو دریو واړو جنګونو کې هم همدا لویدیځ د اسرائیلو تر شا ولاړ و نو یادو ځلور واړو هېوادونو په هر جنګ کې د کوچني اسرائیلي دولت په مقابل کې ماتې وخوړله او په هر جنګ کې اسرائیلو خپلې پولې لا پسې فراخه کړلې او فلسطین د دوه ناحیو برابرو دوه ښارونو ته راټول شو خو پدې کوچنۍ سیمه کې هم دا ظالمه نړۍ دفلسطینیانو آزاد دولت منلو ته نده تیاره بلکې دلته چې کوم ځوانان د نړیوالو وضعي قوانینو سره سم دخپلې خاورې د آزادۍ او دلته د خپلواک دولت د رامنځته کېدو لپاره هڅې کوي نو د وحشي اسرائیلي فوځیانو له لورې وژل کېږي او یا زندانونو ته بوتلل کېږي او چې د وحشت په مقابل کې دفاع او مزاحمت کوي نو تروریستان ګڼل کېږي او د آزادۍ دخوښښت مشران په خپلو

کورونو کې د هوایې بې رحمه بمبارونو له لارې وژل کېږي.

لویدیځه نړۍ د اسرائیلو پدې ټول وحشت نه یواځې دا چې چوپه خوله ده بلکې دا د خپل ځان او خپلو حقوقو نه د یهودانو دفاع کښې او ښه په سپین سترګۍ یې تائیدوي؛ مالي مرستې یې کوي او کوم جنګي وسایل او وسلې چې اخستل غواړي لویدیځ یې پرې پلوري.

دستونزې دحل او د اسرائیلي دولت له لورې د فلسطینانو دځمکو دغصب او پکې د نویو ودانیو جوړولو دلړۍ بندولو لپاره دملګرو ملتونو دامنیت شورى له لورې منظور شوي پرېکړه لیکونه هم شته خو ښه په بدماشۍ یې اسرائیل ردوي خو دملګرو ملتونو اداره، امریکا او نوره لویدیځه نړۍ د اسرائیلو ددې بغاوت په مقابل کې چوپه خوله ده او په اړه یې هیڅ غبرګون نه ښکاره کوي چې همدا د دوئ له لورې ددې سرکشۍ دتائید لویه نښه ده.

داسرائیلو په نوم دې وحشي، ظالم او غاصب دولت دا ځل په ډېرې سپین سترګۍ زمونږ دمحترمو ورځو احترام او د مقدسو مقاماتو تقدس تر پښو لاندې کړ او د مظلومو کمزورو فلسطینیانو پرضد یې دظلم او وحشت ټول وسایل په کار واچول.

دایقیني خبره ده چې د اسرائیلو د وحشت پر ضد یواځې په مظاهرو، چغو او غندنو کار نه کېږي خو دې کې هم شک نشته چې ددې وحشت پر وړاندې د نړۍ او خصوصاً دمسلمانانو چوپتیا لا زیاته تاوانې ده؛ د دې وحشت پر ضد غبرګپورته کول فلسطیني مسلمانانو ته حوصله ورکوي؛ مایوسي یې کمېږي؛ په نړۍ کې د مسلمانو ځوانانو د بیداری باعث ګرځي فلسطیني مسلمانانو سره په حمایت او داسرائیلي وحشي دولت سره په نفرت کې ډېر والی راځي. دجنوبي افریقا، سربیا او یونان په شمول په ګڼو نا مسلمانو هېوادونو کې دانسانیت په درد باندې دردمندو انسانانو دا حقیقت ومنلو چې په فلسطین کې ظلم روان دی؛ د صهیونستي وحشت پر ضد لاریونونه رامنځته شول خو دحیرانتیا او تأسف مقام دی چې د ګوتو په شمېر له څو هېوادونو پرته په نورې اسلامي نړۍ کې چوپتیا خپره ده او لکه څرنګه چې پکار وه د دې وحشت پرضد د ولسونو او دولتونو احتجاج رامخې ته نه شو.

عرب دولتونه ببخي چوپ دي ځکه چې امریکا دعربو او اسرائیلو ترمنځ روابط هاغه حد ته رسولي دي چې باچاهان او دیکتاتوران اوس دخپل حاکمیت ضامن امریکا نه بلکې اسرائیل بولي.

طیب اردګان ویلي دي چې د اسرائیلو پر وحشت د چوپتیا انجام خطرناک دی؛ د دې چوپتیا بدې پایلې به ستاسو نسلونه ووینې؛ یقین وکړئ چې پر تاسو هم همداسې یوه ورځ راتلونکې ده؛ داسرائیلو د وحشت پر ضد اواز پورته کول د انساني ناموس فریضه ده.

د طیب اردګان خبرې ډېرې ښې دي خو متأسفانه چې عملاً ده هم څه ونکړل؛ نه یې اسرائیلو ته کوم ګواښ وکړ؛ نه یې ورسره تجارتي او دیپلوماتیکي اړیکې پرې کړې او نه یې هم فلسطیني مسلمانانو ته د وسلو ورکولو او یا لږ تر لږه ورنه د دفاع خبره وکړه.

اسلامي کانفرانس هم خپل مسئولیت ادا نکړ؛ د اسلامي کانفرانس په شوې غونډې کې د داسرائیلي دولت له لورې د خپلو سیمو نه دفلسطیني مسلمانانو دجبري ویستلو په اړه فکر وشو؛ په مسجد اقصی او غزې کې داسرائیلو روان وحشت وغندل شو او دا عمل یې د بشریت ضد او دانساني اخلاقو خلاف عمل وګڼلو؛ اسلامي کانفرانس چې پر مسلمانانو د ډېرو سختو بریدونو پرمهال یې دکوم عملي اقدام په اړه پرېکړه نده کړی بلکې تل یې په غندنو او اعلامیو خپرولو بسیا کړیده داځل ترې هم له غندنې او اعلامیې خپرولو پرته دبل څه تمه نه وه چې همداسې وشول؛ پدې غونډه کې نه پر اسرائیلو د مؤثر سیاسي فشار واردولو پرېکړه وشوه؛ نه د مصر ترکې، اردن او اماراتو په څېر هېوادونو نه د اسرائیلو سره د دیپلوماتیکو او سودا ګریزو اړیکو دپرېکون غوښتنه وشوه؛ او نه دا وویل شول چې که اسرائیل بریدونه وندروي نو داسلامي نړۍ عملي اقدام به څه وي؟

د اسرائیلو له لورې پرغزې د رامنځته شوي حالت په اړه د فکر کولو په هدف د تیونس، ناروې او چین په غوښتنه د ملګرو ملتونو اداري د امنیت شورى غونډه د امریکا د فشار له امله دخپل وخت نه ۳ ځله وځنډېدله او چې کله رامنځته شوه نو بې نتیجې پای ته ورسېده؛ نه پکې داسرائیلو د وحشت په مقابل کې کومه پرېکړه وشوه؛ نه ددې وحشت د ودرولو لپاره دعملي اقدام وعده رامنځته شوه او نه هم دا وحشت وغندل شو.

که کوم اسلامي هېواد کې د دولت له لورې په مسیحیانو یا نورو نا مسلمانو د غزې دوحشت په سلمه برخه زیاتی شوی وای تر اوسه به دملګرو ملتونو دامنیت شورى له لورې دهاغه دولت پر ضد په لسګونو پرېکړه لیکونه صادر شوي او ګڼ بندیزونه به پرې لګېدلي وای خو دلته چې پر فلسطیني مظلومو مسلمانانو دظلم د ۷ لسیزو یوه نه تم کېدونکې خونخواره لړۍ ده نو په مقابل کې یې هیڅ عملي اقدام نشته.

دملګرو ملتونو اداري د وجود نه تر ننه اسرائیلو او امریکا تل ددې اداري غوښتنې او اصول تر پښو لاندې کړیدي چې همدې د دې اداري حیثیت ته ډېر تاوان رسولی او د کوم هدف لپاره چې رامنځته شوی وه هغه یې تر سوال لاندې راوستی دی.

د تل ابیب او واشنګټن روابط هر اړخیز، په ډېرو قوي بنسټونو ولاړ او د دیپلوماتیکو اصولو نه ډېر پورته دي؛ دامریکا هر ولسمشر چې واک ته رسېږي د اسرائیلو سره دمخکنې ولسمشر په پرتله د ښو اړیکو په هڅه کې وي نو ځکه جوبایدن له انتخاباتو نه وړاندې او

بریالیتوب نه پس د اسرائیلو دولت نه خپل حمایت اعلان کړ.

امریکا اسرائیلو ته هر کال ۳ ملیارده ډالر ورکوي چې پرې فوځي وسایل اخستل کېږي، امریکا هر کال اسرائیلو ته په ملیاردونو ډالر داسې قرضونه هم ورکوي چې ادا کول یې اسان وي؛ دامریکا په ورکړل شویو دې ټولو قرضونو باندې اسرائیل دلویدیځوالو هېوادونو نه وسلې اخلي او دمظلومو فلسطینیانو پرضد یې کاروي. نو ځکه د امریکا نه دا تمه نه شي کېدای چې د دې وحشت دمخنیوي لپاره به کوم اقدام وکړي.

داسرائیلو دهر اقدام نه دامریکا حمایت، دنړۍ د مؤثرو دولتونو چوپتیا، د خپلو قدرتونو دبقا په غرض دعربو مشرانو بې غیرتی، دنړیوالو ادارو منافقت او د انساني ټولنې بې توجهۍ اسرائیلو ته دا جرأت ورکړی چې پر مظلومو فلسطینیانو دا او ددې نه هم ستر وحشتونه ترسره کړي.

د فلسطین د روان وضعیت په اړه دردمن لیکوالان، شنونکي او څېړونکي پر اسلامي هېوادونو مسلطوحاکمانو نه معقولې او ګټورې غوښتنې کوي چې بې له شکه ددې غوښتنو په پوره کېدو ددې ستونزې حل یقیني کېدای شي خو حقیقت دا دی چې په اوس وخت کې پراسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو نه د عملي اقدام هیڅ تمه نه شي کېدای او نه ددې وړ دي چې د فلسطین ستونزه به حل کړي؛ بس همدا د فلسطین مسلمانان چې جهاد ته یې تیاری، ژمنتیا او دښمن ته د تاوان رسولو وړتیا ورځ تر بلې زیاتېږي دهمدوئ دقربانیو په برکت به اسرائیل تباه او فلسطین به ازادېږي؛ لکه ۲۰ کلونه وړاندې چې په افغانستان کې د امریکا او ناټوشکست خلکو ته د امکان نه ډېر لرې ښکارېدلو داسبابو په دې نړۍ کې به د فلسطیني مجاهدینو په لاس داسرائیلو شکست هم ناشونی ښکاري؛ خو څرنګه چې الله تعالی دمظلومو افغانانو په لوبې امریکا او ټولې ناټو ته شکست ورکړ همداسې به دمظلومو فلسطیني مجاهدینو په لاس بزدلویهودي لښکرو ته هم شکست ورکړي دا ورځ خامخا راتلونکی ده. ان شاءالله تعالی.

د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه

ژ: احمدحمزه

په حکمت سره بلنه ورکول

بنه سړیتوب یقیناً تر هغو د بنه نیت خاوند او ربښتینی عابد پورې منحصر وي او بل ته یې نشي صادرولای څو چې په کړو وړو کې یې حکمت او په ټاکنه کې سهي والی په نصیب شوی نه وي، لکه څنګه چې د حکیم سړي پوهه او حکمت تر هغو پورې اجتماعي نفاق او ظالم سیاست ګنډل کیږي څو پورې چې هغې کې ستر روحانیت او په قرآن کریم او احادیثو ټینګوالی نه وي.

دېرى تفسیرونه وایي چې له حکمت څخه مراد قران کریم دی او ځینې نور بیا د حکمت معنی د نبي علیه السلام حدیثونه او نبوت تعبیروي، له همدې وجې هغه احادیث چې د ابن العباس رضي الله عنه - حبرالآمة - په اړه راغلي چې هغه ته د تأویل، کتاب الله او دیني پوهې د تعلیم لپاره نبي علیه السلام ورته دعا کړې وه چې: «اللهم علِّمه الحکمة» اې ربه ته ورته حکمت ور وښیې!

مراد پدې سره قرآن کریم او د احادیثو پوهه او عمل دی لکه څنګه چې دا خبره وروسته دېرو تابعینو کړې او ابن تیمیه رحمه الله هم دا خبره تائیدوي چې د قرآن کریم پوهه یعنې د حق پېژندنه او په هغې عمل کول دي.

کله چې مورږ ژبني توپیر ته وګرځو نو د حکمت معنا (په عربي کې) دا پیدا کوو چې: (الإصابة في القول والعمل، وأصلها وضع الشيء في موضعه.. په وینا او عمل کې سموالی یعنې حق ته رسېدل، داراز یو شی په خپل اصلي ځای کې کېښودل.. په لسان العرب کې راځي: یو کار کې محکم والی او اتقان کول. کله چې یو سړی پوه او حکیم وي، داسې یې بولي، چې: تجربو محکم او قوي ګرځولی، یا متقِن حکیم

د یوباتجربه داعي، د دین د انقلابي افکارو له مخې، چې دظلال القرآن تفسیر یې لیکلی، د حکمت معنی داسې کوي: په پوره ځیرکتیا، تجربې او ادراک سره، عزم او اعتدال غوښتل، د علتونو او غایو تشخصیول او هر شی خپل چوکاټ ته برابرول.

د حکمت لپاره ځینې فطري ریښې وي او ځینې اکتسابي وي چې په وخت سره انسان کې راځي، هغه چې وخت سره انسان هوښیاروي او حکیم جوړوي یو له هغو په دین کې پوهه ده، او دا په دېر خیر سره قرآن کریم

تعبير کړی: {... وَمَن يُؤْتَ الحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُوا الأَلْبَابِ} [البقرة: ٢٦٩] چاته چې حکمت ورکړل شو، په حقیقت کې هغه ته ډېر خیر (ستر دولت) ورکړل شو، او له دې خبرو څخه یوائې د عقل خاوندان درس اخلي. او احادیث هم همدا معنا تائیدوي او د حکمت (پوهې) لاره ښیي: «من يرد الله به خيراً يفقهه في الدين» الله تعالی چې چاته د خیر اراده وکړي نو هغه ته په دین کې پوهه ورکړي.

د ظلال القرآن تفسیر لیکوال دې ته په اشارې سره، حکمت د قرآني تعلیم ثمره ګڼي، داسې وایي: حکمت پدې کتاب د پوهې ثمره ده، هغه یو داسې ملکه ده چې هر کار په اصلي او خپل ځای کې کښنودل، او کارونه په سهي تله باندې تلل، او هم د امورو هدفونه او وجوهات درک کول.

پداسې حال کې چې لقمان حکیم حکمت داسې ګڼي چې د نیکانو او اولیاوو چې نور یې اقتدا کوي په صحبت کې راځي څنګه چې هغه خپل زوی ته وصیت کوي: اې زما زویه، له علماوو سره ناسته پاسته کوه، له هغوی سره خپل زنګونه پیوست کړه، یقینا الله تعالی زړونه د حکمت په رڼا سره ژوندي کوي؛ څنګه چې مړه ځمکه په اسماني اوربشتونو سره ژوندي کوي.

امام بخاري رحمه الله په کتاب العلم کې د یو باب عنوان اینبی (په علم او حکمت کې یوځای والی) پدې اعتبار سره چې علم یوه وسیله ده او حکمت ورته یوه طبیعي نتیجه ده، له دې وجې پدې کې د عمر رضي الله عنه یو قول راوړي: (تفقَّهوا قبل أن تسودوا) علم زده کړئ مخکې لدې چې مشران شئ. ځکه چې مشري پوهې، حکمت او د علماوو تجربو ته ضرورت لري او ددې وجې نه چې کله ناکله مشري په وړکتوب کې ورسېږي، امام بخاري داسې نه دي راوړي چې د عمر رضي الله عنه له وینا داسې وفهمیږي چې مشري او رهبري د تواضع له وجې علم او علماوو لپاره منع ګرځي، بلکې حدیث پسې داسې راوړي: (وبعد أن تسودوا، وقد تعلم أصحاب النبي - صلى الله عليه وسلم - في كبر سنهم). وروسته له هغې چې دوی مشران شول، صحابه کرامو په لوړو عمرونو کې زده کړې وکړې.

بیا که وګورو په یو اعتبار سره د عمر پوختګي او تجربې د حکمت سرچینې دي او هم په دیني او دنیاوي چارو کې احتیاط کول، حدیث کې راځي: «لا يُلدَغ المؤمن من جُحر واحد مرتين» مؤمن له یوې سوړې دوه ځله نه چیچل کیږي.

ډېری تجربې هغه دي چې سړي کې حلم او حکمت راولي، دا خپله له حدیث څخه معلومیږي: «لا حليم إلا ذو عثرة، ولا حكيم إلا ذو تجربة» حلیم (بردباره) نشته مګر د کړاوونو څښتن او حکیم (پوه) نشته مګر د تجربې څښتن. ابن اثیر رحمه الله پدې اړه لیکي چې ددې معنا داده: حلم او زغم تر هغو نه راځي چې په کارونو کې لوبډلی نه وي، هغه پکې وښویږي، په کړاو شي بیا نو د خطا ځایونه ځانته په ګوته کوي او ځان ترې ساتي.

شاید حکیم دې حالت ونه رسیږي، کوم ته چې د خطاګانو، ښویدنو او سقوط نه وروسته په تعلّم سره ورسیږي، یا هم له هغه چا چې لده په علمي سویه، په عمر او تجربه کې لوړ وي، خو غافل ته نه تجربې ګټه رسوي او نه وختونه ورته ښوونه کوي، له همدې وجې خطابي رحمه الله داسې توپیر کوي: (مؤمن باید ویښ او بیدار وي په غفلت کې واقع نه شي چې یو پر بل پسې دوکه شي او دا کله د دین په چارو کې وي، څنګه چې د دنیا په چارو کې وي، خو دین پکې اولی او مخکې دی.

نو حکیم ته لازمه ده چې آرام دماغ ولري، هوښیار او ځیرک وي، ځان مشکلاتو ته ورنه کړي، یو حدیث کې راځي چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته یو صحابي راغی، ورته وې ویل: اې د الله رسوله ماته ښوونه وکړه او لنډه یې کړه، نو هغه په ځواب کې وویل: «إذا قمت في صلاتك فصلِّ صلاة مودِّع، ولا تكلَّمْ بكلام تعتذر منه، وأجمعِ اليأسَ عما في أيدي الناس» کله چې ته لمانځه ته ودرېدې نو د (د ژوند سره) د خدای پامانی لمونځ وکړه او داسې خبره مه کوه چې بیا ورته عذرونه کوې، د خلکو سره چې څه دي له هغې څخه خپله نا امیدي ټوله کړه. نو د الفاظو په راویستلو کې احتیاط او له غلطي څخه ځان ساتل یې داسې حکمت عملي وګرځاوه چې د ډېرو عمرخوړلو تجربې خلاصه کړي.

او د حکمت خاوند لپاره د ورکړل شوي علم له شکرانو یوه داده چې خلکو ته دخپل حکمت ثمره او د خپلې پوهې او تجربې خلاصه ور وښیي، بیا نو د هغه غاړه خلاصه ده چې خلک د هغه د علم له وجې حسد کوي او د هغه مقام ته د رسیدلو ته تمنا لري، لکه څنګه چې حدیث کې راځي: حسد یوازې په دوه شیانو کې جائز دی؛ هغه سړی چې الله تعالی هغه ته مال ورکړی وي او هغه یې د حق په لاره کې په مصرفولو برلاسی وي او بل هغه سړی چې الله تعالی حکمت ورکړی وي او په هغې فیصله کوي او نورو ته یې ښیي. ابن حجر رحمه الله حکمت په یو جامع مفهوم سره تفسیروي، وایي: مراد له حکمت څخه: هرهغه څه چې د جهل څخه منع کوي او د ناوړه کار مخه بندوي.

د حکمت لوړې درجې ته رسېدلو څخه هدف په وینا او عمل کې سموالی دي او همدا حکمت بیا الله تعالی په لاره کې مصرفول: {ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الحَسَنَةِ....} [النحل: ١٢٥] اې پېغمبره! د خپل رب لارې ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه وکړه. ابن قیم رحمه الله فرمایي: دلته یې حکمت مطلق راوړی او په نیکئ یې مقید نه ده ګرځولی، لدې وجې چې حکمت ټوله نیکي ده او پدې کې ښه والی یو ذاتي صفت دی.

له همدې وجې هغه کسان چې داعیانو سره اوسیږي او ځیرک او د حکمت خاوند وي، د بلونکو له تهذیبي چلند څخه خوند اخلي، زده کوي یې او د هغوی څرګندونو ته ډېر په آرامو دماغو، په رضایت سره غوږ نیسي او خبره یې نه غورځوي. لکه څنګه چې د بحر کتاب لیکوال په اړه روح المعاني کې راځي: له انسان څخه د یوې داسې سمې خبرې وتل چې په ښه ځای وربرابره شي. څومره چې داعي ډېره پوهه، سالم عقل، ښایسته بصیرت ولري، هغومره ډېر د حکمت خاوند وي. په فتح القدیر کې راځي: حکمت هغه چې لقمان حکیم ته ورکړل شوی وه، هغه: (پوهه، عقل او د خبرې سهې والی یعنې حق والی) وه. او امام قرطبي رحمه الله هم د هغه خبره تائید کړې.

الله تعالی په لاره کې په حکمت سره بلنه کولو څخه یو ډول دادی چې (د مخاطب او اورېدونکو حال او ظروفو ته کتل، او د وینا لپاره د وخت اندازه معلومول چې وینا وال پکې هر وار دوی ته خبره کوي، ترڅو خدای مه کړه خبره وربانديې درنه شي، مخکې لدې چې دوی کې اثر وکړي دهغوی ورته زړه تنګ شي او هم هغه طریقه په نظر کې نیول چې هغوی مخاطبوي، او پدې طریقه کې د دوی د غوښتنو سره سم په کې تنوع او نوښت کول؛ هسې نه چې جذبه، احساسات او غیرت وربانديې زورور شي، چې بیا به یې د حکمت له حدودو پښه اړولي وي.

❊❊❊

د روژې په میاشت کې د کابل اداري لخوا

په ملکي خلکو ۶۹ بریدونه شوي چې ۲۰۵ هیوادوال یې شهیدان او ټپیان کړي دي

د مسلسلو جنګي جنایاتو په لړ کې، د روژې له لومړۍ نیټې تر نن ورځې پورې، د کابل اداري د عسکرو او د هغوی د بهرنیو ملاتړ له لوري په ملکي خلکو ٦٩ لوی او واړه بریدونه او بمبارونه شوي دي.

دغه جنایات د هیواد په ۲۲ ولایتونو لوګر، بلخ، هرات، کندز، هلمند، میدان وردګو، بغلان، بدخشان، غزني، کندهار، غور، کاپیسا، پکتیا، لغمان، فاریاب، تخار، کنړ، ننګرهار، پروان، جوزجان، دایکندي او فراه کې ترسره شوي چې زمونږ هیوادوالوته یې ګڼه مرګ ژوبله اړولې ده.

د دقیقو راپورونو په اساس د روژې له پیله تر ۲٦ تاریخ پورې د کابل اداري او د هغوی د بهرنیو ملاتړو په عملیاتو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون زمونږ ۱۰۲ تنه هیوادوال شهیدان شوي، ۱۰۳ تنه نور ټپیان شوي، لسګونه تنه زندانونو ته اچول شوي، ۱۸ بابه کورونه او ګڼ شمیر دوکانونه ویجاړ شوي دي.

اسلامي امارت دغه ټول وحشتونه په کلکه غندي، په نړیوالو حقوقي او بشري بنسټونو یوځل بیا غږ کوي چې زمونږ د مظلومو هیوادوالو د وژنو او ځورونو مخه ونیسي او هغوی چې ملکي خلک تر هدف لاندې نیسي- وغندي.

په لاندې راپور کې د تیرو ۲٦ ورځو د ملکي پیښو او تلفاتو جزئیات درسره شریکوو چې د دښمن له جنایاتونو څخه پرده پورته کوي او دا ښکاره کوي چې ملکي خلک په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان څوک په بې دردۍ سره وژني او تلفات ورته اړوي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۲/۹/۲٦هـ ق - ۱۴۰۰/۲/۱۸هـ ش ــ ۲۰۲۱/۵/۸م

د ملکي تلفاتو ورځنۍ جزئیات

ــ د روې په ۵ تاریخ، د بلخ ولایت چهاربولک ولسوالۍ بوس تپه سیمه کې داخلي دښمن د ډیسي-توپونو بریدونه وکړل چې یو کور یې ویجاړ یوه لس کلنه ماشومه شهیده او یوه ښځه یې ټپي کړه.

ــ د روژې په ۵ تاریخ، داخلي دښمن اربکیانو د هرات ولایت غوریان ولسوالۍ په بازار کې یو ۱۲ کلن ماشوم بې له کوم دلیله په ډزو وویشت او شهید یې کړ.

ــ د روژې په ۶ تاریخ د کندز ولایت امام صاحب ولسوالۍ د موټرشویي پله نیږدې کورونو باندې بمبار وکړ، یو کور یې بشپړ ویجاړ کړ، یوتن سپین ږیری یې په کې شهید کړ.

ــ د روژې په ۶ تاریخ، داخلي دښمن د لوګر مرکز اړوند بابوس سیمه کې د ملکي خلکو په کورونو چاپه ووهله، ګڼې دروازې یې ماتې یې کړې، د خلکو شخصي اموال یې لوټ کړل.

ــ د روژې په ۷ تاریخ، د کندز ولایت امام صاحب ولسوالۍ ایسکي سیمه کې د داخلي دښمن الوتکو د خلکو په کورونو بمبار وکړ، د عبدالرحمن ترکمن کور یې بشپړ ویجاړ کړ، یوه ښځینه شهیده شوه، پخپله عبدالرحمن او یو ځوان زوی یې ټپیان شول.

ــ د روژې په ۷ تاریخ د هلمند ولایت مارجې ولسوالۍ د کیمپ په سیمه کې د کابل اداري عسکرو د خلکو کورونه په هاوان ووشتل شول، له املې یې یو کور بشپړ ویجاړ او ښځینه شهیده شوه.

ــ د روژې په ۷ تاریخ، د لوګر ولایت څرخ ولسوالۍ ډبر سیمه کې داخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو چاپه ووهله، د ګڼو کورونو دروازې یې ماتې کړې، قیمتي شیان یې لوټ کړ، ۶ تنه کلیوال یې له ځانه سره د بندیانو په توګه یوړل.

ــ د روژې په ۷ تاریخ، د میدان وردګو سیدآباد ولسوالۍ آکاخیلو سیمه کې د داخلي دښمن عسکرو د خلکو په کورونو هاوان وویشتل چې له املې یې ګڼ کورونه ویجاړ شول، د صفي الله په نامه د یوکس په کور کې د هغه اته کلنه لور شهیده شوه.

ــ د روژې په ۸ تاریخ، د بغلان ولایت مرکزي بغلان ولسوالۍ شپږم سړک سیمه کې د دښمن الوتکو د ملکي خلکو په کورونو بمبار وکړ، ګڼ کورونه یې ویجاړ کړل، خو د سر زیان یې نه درلود.

ــ د روژې په ۸ تاریخ، د هلمند ولایت موسی کلا ولسوالۍ کونجک کلي کې د اسلامي امارت په ملکي محبس باندې د امریکایي اشغالګرو لخوا بمبار

وشو چې پکې ۶ تنه جنايي بنديان شهيدان شـول، يـو بندي تپي شو.

ــ د روژې پـه ۸ تـاريخ، د بغـلان ولايـت دهنـه غوري ولسوالۍ د ظاهرآباد اماجد کلي باندې د داخـلي دښـمن لخـوا بمبـار وشـو چـې لـه املـه يـې ۴ ملکـي کورونه بشپړ ويجاړشول، خلکوته درانه مالي زيانونه واوښتل.

ــ د روژې ۸ تـاريخ، د بدخشـان ولايـت مرکـز فيض آباد اړوند سيمه کې يو دهقان چې پخپله ځمکه په کرونده بوخت وو د دښمن د هاوان په ګوزار کـې په شهادت ورسول شو.

ــ د روژې په ۹ تاريخ، د هرات ولايت غوريـان ولسـوالۍ پـه مربوطـات کـې د اربـاب سـيد احمـد د اربکيانو لخوا ونيول شول بيا وروسته په ډير قساوت سره شهيد کړل شو.

ــ د روژې په ۹ تـاريخ، د غـزني ولايـت مرکـز اړوند ارزو کلي باندې د دښمن لخوا بمبار وشو چې لـه املـه يې يو کور ويجاړ او ۲ تنه عـام کليـوال شـهيدان شول.

ـــ د روژې پـــه ۹ تـــاريخ، د بدخشـــان کشـــم ولسوالۍ ياورزن سيمه کې د داخـلي دښـمن لخـوا پـه ملکي خلکو د هاوان بريدونه وشول يو کور ويجـاړ يو ملکی کس عزت الله شهيد شو.

ـــ د روژې پـه ۹ تـاريخ، د کنـدهار ارغنـداب ولسوالۍ سردرې سيمه کـې داخـلي دښـمن پـه ملکـي خلکو ډزې وکړې چـې يـو تـن کليـوال عبـدالباري د منګل زوی يې شهيد کړ.

ــ د روژې پـه ۹ تـاريخ، د غـور ولايـت مرکـز اړوند جرماتو سيمه کې داخلي دښمن په ملکي خلکو د هاوان فيرونـه وکـړل چـې لـه املـه يـې ۴ کورونـه ويجاړ شول، خلکو ته درانه مالي زيانونه ورسيدل.

ــ د روژې په ۱۰ تاريخ، د کاپيسا ولايت الاسای ولسوالۍ په دورزګر، خنجرخيلـو او صـادقانو کليـو باندې د مزدور دښمن لخوا د هاوان بريدونـه وشـول، يو ۱۲ کلن ماشوم چـې د قـرآن کـريم حـافظ هـم وو شهيد او د يـوې ميرمنـې پـه ګـډون ۲ تنـه نـور تپيـان شول.

ــ د روژې په ۱۰ تاريخ د ميدان وردګو سـيدابـاد ولسوالۍ سالارو سـيمه کـې د داخـلي دښـمن لخـوا د خلکو په کورونو ډيسي توپونه وارشوي چې يـو تـن تپي او دوه کورونه قسما تخريب شوي دي.

ــ د روژې په ۱۱ تاريخ، د پکتيا ولايت ځـائيو اريوب ولسوالۍ جګ کوټي سيمه کـې اربکيـانو پـه ملکي خلکو ډزې وکړې يو کس يې شـهيد او د هغـه بل ورور يې تپي کړ.

ــ د روژې په ۱۱ تاريخ، د کاپيسا ولايت تګاب ولسوالۍ په شاتورو سيمه کې د داخلي دښـمن لخـوا د خلکو په کورونو هاوان ووشـتل شـو يـوه اتـه کلنـه ماشومه او يوبل کس شهيدان شول.

ــ د روژې په ۱۱ تاريخ، د لـوګر ولايـت مرکـز اړوند بابوس سيمه کې امريکـايي اشـغالګرو پـه يـو شخصي موټر د ډرو برید وکـړ يـو ټکسي- وان او يـو ماشوم يې شهيدان کړل.

ــ د روژې په ۱۱ تاریخ، د پکتیا پتیان ولسوالۍ ځیګارۍ سیمه کې اربکیانو په ملکي خلکو برید وکړ یو تن کلیوال حبیب الله یې ټپي کړ.

ــ د روژې په ۱۱ تاریخ، د لغمان ولایت مرکز اړوند علي خیلو کلي کې د کابل اداري استخاراتي کسان یو مسجد ته داخل شول، یو سپین ږیری حاجي لعل آغا او دوه ځوانان یې شهیدان کړل.

ـــ د روژې په ۱۳ تاریخ، د فاریاب ولایت قیصار ولسوالۍ کهنه قلعه سیمه کې دا خلي عسکرو په ملکي خلکو د هاوان بریدونه وکړل، یو تن شهید او یوه ښځینه ټپي شوه.

ــ د روژې په ۱۳ تاریخ، د میدان وردګو سیداباد ولسوالۍ اوټړیو سیمه کې داخلي عسکرو په ملکي کورونو د توپ ډزې وکړې چې د روژه مات په وخت کې یې د شیراغا په نامه یو تن له خپلو دوه زامنو سره شهیدان شول د هغه کور ۴ تنه نور ماشومان یې ټپیان کړل.

ــ د روژې په ۱۳ تاریخ، د میدان وردګو جلریز ولسوالۍ زرولنګ کلي باندې د دښمن لخوا بمبار وشو چې له املې یې ۷ تنه کلیوال چې لویان او ماشومان په کې دي شهیدان شول یو تن ټپي شو.

ـــ د روژې په ۱۳ تاریخ، د لغمان ولایت علیشنګ ولسوالۍ ګرګړ سیمه کې اربکیانو یو تن ملکي کس چې د سیمې کلینیک ته د تداوي لپاره روان وو په لویه لاره کې شهید کړ.

ــ د روژې په ۱۳ تاریخ د میدان وردګو سیدآباد ولسوالۍ بازار کې داخلي عسکرو یو تن دوکان دار (روح الله د سالم زوی) په ډزو شهید کړ او د عبدالولي په نامه یو بل دوکاندار یې ټپي کړی دی.

ـــ د روژې په ۱۴ تاریخ، د غزني ولایت خوګیانو ولسوالۍ خاشاه سیمه کې داخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو ډیسي توپونه وار کړل چې له املې یې یوه ماشومه شهیده او یوه میرمن او ۳ نور ماشومان ټپیان شول.

ــ د روژې ۱۴ تاریخ، د تخار ولایت نمک آب ولسوالۍ خمیرخوران سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یوه ۱۲ کلنه انجلي شهیده شوه.

ـــ د روژې په ۱۴ تاریخ، د لغمان دولت شاه ولسوالۍ په مرکز کې داخلي عسکرو په یوه ملکي موټر ډزې وکړې چې له املې یې ۱ښځینه اویو نارینه چې د ګوډان کلي اوسیدونکي وو ټپیان شول.

ــ د روژې په ۱۴ تاریخ، د کنړ ولایت منوړې ولسوالۍ چینار او پیتاو کلیو باندې د داخلي عسکرو لخوا توپونه وویشتل شول چې له املې یې یوه ۱۳ کلنه انجلي چې د جان محمد په نامه کس لور وه شهیده شوه.

ــ د روژې په ۱۵ تاریخ، د غور ولایت تیوره ولسوالۍ تکټقل سیمه کې د دښمن لخوا په یوه دیني مدرسه بمبار وشو ۲ تنه کوچني طالب العمان ټپیان شول.

ـــ د روژې په ۱۵ تاریخ، د فاریاب ولایت قیصار ولسوالۍ بیش بلا او سراسیاب سیمو کې د ملکي خلکو کورونه په هاوان ووشتل شول، ۲ تنه ملکي کسان شهیدان او ۳ تنه نور ټپیان شول.

ــ د روژې په ۱۵ تاریخ، د ننګرهار ولایت سره رود ولسوالۍ کړسو سیمه کې اربکیانو په ملکي خلکو ډزې وکړې چې له املـه یې یـوتن (شرنـګ د نیاز محمد زوی) په شهادت ورسید.

ـــ د روژې پـه ۱۲ تـاریخ د نورسـتان ولایـت برګمتال ولسوالۍ پیړا کی د مزدور عسکرو قومندان شمس الله د یو تن کلیوال کریم الله ۴۰ رأسـه پسـونه په زور ترې غلا کړي او له ځانه سره یې وړي دي.

ـــ د روژې پـه ۱۵ تـاریخ د کنـړ غـازي آبـاد ولسوالۍ په مربـوط سیمه کـې د دښـمن عسـکرو د عامو خلکو د قیمتي لرګیو په پلورن ځایونو بانـدې د هاوان ډزې وکړې چې لـه املـه یـې د لرګیـو اډې اور واخیست تر ۳۰۰ لکه افغانیو د خلکو شخصي لرګـي په کې وسوزیدل.

د یادونې وړ ده چې د ولسوالۍ د عسکرو لخوا خلک د اور مړکیدوته هم نه پریښودل کیدل.

ـــ د روژې پـه ۱۶ تـاریخ، د پـروان بګـرام ولسوالۍ چرچرک کلي کې د کابـل اداري عسـکرو د مدرسې یـوتن طالـب العلـم قـاري دلاور پـه ډزو سره شهید کړ.

ـــ د روژې پـه ۱۷ تـاریخ، د بلـخ ولایـت چهاربولک ولسوالۍ ثوریـانو سیمه بانـدې د دښـمن لخوا بمبار وشو چې ۳ کورونـه مکمـل ویجـاړ شـول، یوه اته کلنه انجلي شـهیده او ۲ نـور ماشـومان ټپیـان شول.

ـــ د روژې ۱۷ تـاریخ د پکتیـا ګـرده څیـړۍ ولسوالۍ سواکۍ کنډو سیمه کې مزدور عسکرو پـه ملکي خلکو هاوان وویشتل چې لـه املـه یـې ۲ تنـه ښځې ټپیانې شوې.

ـــ د روژې پـه ۱۷ تـاریخ، د لغـمان ولایـت علیشنګ ولسوالۍ علیشنګ کلي کې مزدور عسکرو په ملکي خلکو ډزې وکړې ۲ تنه عام خلک چـې پـه ځمکو کې یې اوبه لګولې شهیدان کړل.

ــ د روژې په ۱۷ تاریخ، د لغمان ولایت بادپښ ولسـوالۍ سپینه قلعـه سیمه کـې مـزدور دښـمن پـه کورونو باندې د هاوان ډزې وکړې چې له املـه یـې ۱ تن شهید او ۱۰ تنه نور ټپیان شول.

ـــ د روژې پـه ۱۸ تـاریخ، د لـوګر ولایـت محمداغې ولسوالۍ غلدر او ناصرو سیمو کې داخلي دښـمن د خلکـو پـه کورونـو چـاپې ووهلـې د ګنبـو کورونو دروازې یې ماتې کړې، خلک یـې ووهـل او قیمتي توکي یې لوټ کړل.

ـــ د روژې پـه ۱۸ تـاریخ، د جوزجـان ولایـت مرکز اړوند ترکمن قدوق کلي کې داخلي عسکرو پـه ملکـي خلکـو ډزې وکـړې ۵ تنـه سـپین ږیـري یـې شهیدان کړل.

ـــ د روژې پـه ۱۸ تـاریخ، د بغـلان ولایـت پلخمـري ولسـوالۍ زمـانخیلو سـیمه کـې د پوسـتې عسکرو یو ایسکریم فروش په ډزو شهید کړ.

ــ د روژې په ۱۸ تاریخ، د کابل پغمان ولسـوالۍ بره ارغندۍ اتم خیلو کلي کې د داخلي دښمن لخوا پـه ملکي خلکو چاپه ووهل شوه، ۲ تنـه کلیـوال یـې لـه ځانه سره یوړل.

ـــ د روژې په ۱۹ تاریخ، د بدخشان ولایت بهارک ولسوالۍ خیرآباد سیمه کې یو تن ملکي کس حمیدالله د اسلام اباد کلي اوسیدونکی د عسکرو لخوا په ډزو سره شهید کړل شو.

ـــ د روژې په ۲۱ تاریخ، د بلخ ولایت زارع ولسوالۍ له مرکز سره نیږدې سیمه کې د داخلي عسکرو لخوا په ملکي خلکو د هاوان ګوزارونه وشول چې له امله یې یو کور تخریب ۲ تنه ملکي خلک شهیدان او ۳ تنه نور ټپیان شول.

ـــ د روژې په ۲۱ تاریخ، د لغمان ولایت علیشنګ ولسوالۍ ګرګړ کلي کې د داخلي عسکرو لخوا ډیسي توپونه وارشوي چې له امله یې یو اته کلن ماشوم شهید شوی، نور خلک له خپلو کورونو څخه وتلو ته اړ کړل شول.

ـــ د روژې په ۲۱ تاریخ، د هرات ولایت رباط سنګی ولسوالۍ چهل دختر سیمه کې د دښمن الوتکو بمبار وکړ یو ملکي کس یې په شهادت ورساوه.

ـــ د روژې په ۲۲ تاریخ، د لوګر ولایت مرکز پل علم اړوند کنجک سیمه کې داخلي عسکرو د خلکو په کورونو ډیسي توپونه وار کړل چې له امله یې ۱ سړی، ۴ښځې او ۵ ماشومان ټپیان شول، کور ویجاړشو.

ـــ د روژې په ۲۲ تاریخ، د دایکندي ولایت ګیزاب ولسوالۍ پاتو سیمه باندې د داخلي عسکرو لخوا د هاوان بریدونه وشول چې له امله یې ۲ تنه عام خلک چې بزګران ول شهیدان شول، یوه ښځه او یوه ماشومه ټپیان شول.

ـــ د روژې په ۲۲ تاریخ، د ننګرهار ولایت خوګیانو ولسوالۍ نګړخیلو سیمه کې د مزدور دښمن عسکرو لخوا په خلکو باندې د هاوان بریدونه وشول چې له امله یې یو تن لوی کس ګل زمان او ۲ ماشومان ټپیان شول.

ـــ د روژې په ۲۳ تاریخ، د لغمان ولایت مرکز اړوند بدیع اباد سیمه کې داخلي عسکرو په ملکي کورونو هاوان فیر کړل چې له امله یې یوه ماشومه شهیده او ۳ تنه نور لویان ټپیان شول.

ـــ د روژې په ۲۳ تایخ، د فاریاب ولایت چهلګزي ولسوالۍ الکوزهي کلي باندې د داخلي دښمن لخوا د هاوان ګوزارونه وشول چې له امله یې دوه تنه دوکانداران (موسی جان او محمدګل) ټپیان شول، دوه بابه دوکاونه تخریب شول.

ـــ د روژې په ۲۳ تاریخ، د غزني ولایت خواجه عمري ولسوالۍ په نهه برجه سیمه کې یو تن عام کلیوال د عسکرو لخوا په شهادت ورسول شو.

ـــ د روژې په ۲۳ تاریخ، د پکتیا سیدکرم ولسوالۍ په بازار کې د کابل اداري عسکرو یو تن

عام کس شفیق الله له دې امله په شهادت ورساوه چې د هغو سره یې په پوسته کې کار نه کاوه.

ـ د روژې په ۲۳ تاریخ، د فاریاب ولایت چهلګزي ولسوالۍ کته اولنګ سیمه کې د دښمن الوتکو په ملکي خلکو بمبار وکړ ۳ تنه عام کسان (ګل احمد، سیدمقدس او عبدالرحیم) یې ټپیان کړل.

ـ د روژې په ۲۳ تاریخ، د پروان ولایت بګرام ولسوالۍ قلعه نصرو سیمه کې د دښمن صفر یک قطعې په ملکي خلکو چاپه ووهله، د ګنبو کورونو دروازې یې منفجر کړې، د خلکو قیمتي توکي یې لوټ کړل، ۱۰ تنه عام کلیوال یې له ځانه سره د بندیانو په توګه یوړل.

ـ د روژې په ۲۳ تاریخ، د میدان وردګو سید آباد ولسوالۍ پټانخیلو کې یو ماشوم د آګایس ناچاودې مرمۍ پیدا کړې وه چې پرې انفجار شوه او شهید یې کړ.

ـ د روژې په ۲۴ تاریخ، د بغلان ولایت مرکزي بغلان ولسوالۍ د ابومحمد په لیسه د مزدور دښمن لخوا بمبار وشو چې له امله یې ۲ تنه ملکي خلک شهیدان شول.

ـ د روزې په ۲۴ تاریخ، د غزني ولایت خوګیانو ولسوالۍ خاشا کلي باندې د مزدور عسکرو لخوا د دهشکې ډزې وشوې چې له امله یې یو تن ۱۲ کلن ماشوم په شهادت ورسید.

ـ د روژې په ۲۴ تاریخ، د میدان وردګو چک ولسوالۍ امبوخاک سیمه کې داخلي عسکرو یو کوچی چې مال یې خراوه په شهادت ورساوه.

ـ د روژې په ۲۴ تاریخ، د فراه ولایت فراه رود ولسوالۍ په عمومي سړک د مزدور عسکرو لخوا په ملکي خلکو ډزې وشوې چې امله یې ۳ تنه موټر چلونکي ټپیان شول.

ـ د روژې په ۲۴ تاریخ، د هرات ولایت شیندنډ ولسوالۍ په کالسک، آسعدآباد او مهاجرینو کلي سیمو کې ۴ تنه ملکي خلک د داخلي عسکرو لخوا په ډزو سره شهیدان شوي دي.

ـ د روژې په ۲۴ تاریخ، د غزني ولایت جعتو ولسوالۍ مهمندو کوتل سیمه کې د دښمن الوتکو په ملکي خلکو بمبار وکړ ۳ تنه عام خلک شهیدان شول.

ـ د روژې په ۲۵ تاریخ، د لغمان الینګار ولسوالۍ منګو سیمه کې د دښمن الوتکو په ملکي خلکو بمبار وکړ چې له امله یې ۲ تنه ماشومان شهیدان شول.

ـ د روژې په ۲۵ تاریخ، د فراه ولایت فرارود ولسوالۍ په شاوخوا کلیو باندې د داخلي عسکرو لخوا د هاوان وارونه کیږي چې له امله یې ۲ ښځینه ټپیانې شوې او څو کورونه تخریب شوي دي.

ـ د روژې په ۲۵ تاریخ، د فراه ولایت بالابلوک ولسوالي شیوان سیمه کې په هغه قرارګاه چې دښمن ورځخه تښتیدلی وو او عام خلک یې لیدو ته راغلی وو د دښمن د الوتکو لخوا سخت بمبار وشو چې له امله یې د ماشومانو په ګډون ۲۰ تنه ولسي خلک شهیدان شول او ۳۳ تنه نور ټپیان شول. انالله وانا الیه راجعون

جنګي جنايتونه (مارچ)

سید سعید

د۲۰۲۱ز. کال د مارچ د میاشتې په لومړۍ نیټه دفاریاب ولایت د المار ولسوالۍ بازار ته ځیرمه حکومتي الوتکو دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د مارچ په لومړۍ نیټه د لوګر ولایت مرکز په تختي شاه سیمه کې داخلې عسکرو یو ملکي وګړی (فضل اکا) شهید کړی دی.

د مارچ په ۲مه د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په بره ارغندۍ کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال درې تنه ملکي وګړي - چې پلار او دوه زامن وو- لومړی په چرو وهلي او بیا یې شهیدان کړي دي.

د مارچ په ۳مه د جوزجان ولایت د اقچې ولسوالۍ په چهار جفت او مرکزي سیمه کې داخلي عسکرو دوه تنه ملکي وګړي په جلا- جلا پیښو کې شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۴مه د فاریاب ولایت د المار ولسوالۍ بازار ته ځیرمه د حکومتي ځواکونو په هوایې حمله کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د مارچ په ۵مه د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په بازار کې داخلي عسکرو پر ملکي خلکو ډزې کړې چې له امله یې یو موټر چلونکی او یوه میرمن شهیده شو ې ده.

د مارچ په ۵مه د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د ریګي په سیمه کي حکومتي عسکرو د حافظانو د فراغت پر غونډه دتوپچي بریدونه کړي چې له امله یې اووه تنه حافظان شهیدان او ټپیان شوي دي.

د مارچ په ٦مه د هلمند ولایت د مرکزلښکرګاه د اولې حوزې دزرګرانو د مارکیټ په سیمه کې داخلي عسکرو یو دوکاندار شهید کړی دی.

د مارچ په ۸مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په منګل لګېدلې سیمه کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال یو سپین ږیری کلیوال شهید کړی او خلکو ته یې مالي تاوانونه رسولي دي.

د مارچ په ۸مه د لوګر ولایت مرکز پل علم په پادخواب شانه سیمه کې حکومتي عسکرو یوملکي وګړی شهید کړی دی.

د مارچ په ۸مه د هرات ولایت د کشک کهنه ولسوالۍ د کښته بازار د بند امام په کلي کې د عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د مارچ په ۹مه د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالی په دهزکي سیمه کې د یرغلګرو په ډرون برید کې یو ۱۴ کلن هلک شهید شوی دی.

د مارچ په ۱۰مه دهلمند ولایت مرکزلښکرګاه ته څېرمه دسره ګودر په سیمه کې د حکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې درې تنه ماشومان شهیدان شوي او یو بل تن ژوبل شوی دی.

د مارچ په ۱۰مه دهلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د سرې کلا په سیمه کې سنګوری اربکیانو یوملکي وګړی شهید کړی او یو بل تن یې ژوبل کړی دی.

د مارچ په ۱۱مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ د پیټلو په ځاځي سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی او دوې ماشومانې ژوبلې شوې دي.

د مارچ په ۱۱مه د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ په مرکز کې د امنیه قومندانۍ عسکر یو کور ته ورغلي، یو سړی او یوه میرمن یې په خپل کور کې شهیدان کړي او یو بل تن یې په خپل پټي کې شهید کړی دی.

د مارچ په ۱۱مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په ټپنګ سیمه کې د صفر دو په نوم عسکرو د خلکو پر کورونو چاپه وهلې، یوه ورځ او شپه یې خلک خپلو کورونو کې بندیان کړي او په یو سیمه ییز دارالحفاظ کې یې لس تنه حافظان شهیدان کړي، له پیښې څخه د ژوندي پاته شوو ماشومانو په وینا: «عسکر چې مدرسې ته راغلل په عمر څه مشران حافظان یې له کوټو څخه وایستل او بیا یې یو- یو زمورږ په مخکې شهیدان کړل».

د مارچ په ۱۲مه حکومتي الوتکو د فاریاب ولایت په المار ولسوالۍ کې (CHC+) سي ایچ سي پلس کلینیک باندې بمبار کړی، په دغه بمبار کې کلینیک ویجاړ شوی او ټول صحي وسایل یې له منځه تللي دي، یاد شوی کلینیک د (SDOسنایي انکشافي مؤسسې) له لوری تمویلده، په یاد شوي کلنیک کې ۱۴ تنه نارینه او ۹ تنه ښځینه ډاکټرانو او روغتیاپالو کار کاوه او په سیمه کې یوازیني مجهز کلینیک و.

د مارچ په ۱۲مه د غزني ولایت د قرباغ ولسوالۍ په لیوني بازار سیمه کې عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د مارچ په ۱۲مه د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ په باغ پهلوان سیمه کې د حکومتي

ځواکونو د توپچي په ډزو کې یوه میرمن شهیده شوې او ځلور ماشومان ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۱۲مه د زابل ولایت مرکز قلات د نورک د پوستې څخه په توغول شوو هاوانونو درې نجونې شهیدانې شوې او درې نور ماشومان ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۱۳مه د فراه ولایت د مرکز په دهیک سیمه کې داخلي عسکرو یو موټرچلونکی شهید کړی، همداراز د بالابلوک ولسوالۍ د کنسک په سیمه کې هم عسکرو یو ملکي وګړی چې په لاره روان و، شهید کړی دی.

د مارچ په ۱۴مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ په پیټلو سیمه کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې یو سپین ږیری شهید شوی او پنځه تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۱۵مه د جوزجان ولایت د منګجیک ولسوالۍ په هارواول کلي کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې یو ځوان شهید شوی دی.

د مارچ په ۱۵مه د کندز ولایت د قلعه زال ولسوالۍ په اق مسجد سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د مارچ په ۱۶مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ په بازار کې د حکومتي عسکرو په ډزو کې یوه ښځه او دوه ماشومان ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۱۹مه دهرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ په شهرودک سیمه کې داخلي عسکرو د ملکي خلکو پر یو موټر ډزې کړې چې له املې یې دوه ماشومان شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۱۹مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د سورډاګ په سیمه کې د صفر دو قطعې عسکرو د ولسي خلکو پر کورونو د چاپې په مهال یو ښوونځی نړولی او د ګڼو کورونو دروازې یې په بمونو تخریب کړې دي.

د مارچ په ۱۹مه د ارزګان ولایت د مرکزټر ینکوټ د پاي ناوي په سیمه کي داخلي عسکرو یو سپینږیری بزګر چې په خپل کښت کې یې اوبه لګولې شهید کړی دی.

د مارچ په ۱۹مه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ د چغاتک په سیمه کې حکومتي عسکرو دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د مارچ په ۲۰مه د زابل ولایت د ښارصفا ولسوالۍ د خواجه بابا په سیمه کې د کابل- کندهار پر لویه لار د پوستې عسکرو یو موټر چلونکی د ۵۰ افغانیو د نه ورکړې په ګناه وهلی او په مرمیو ویشتلی دی.

د مارچ په ۲۰مه د زابل ولایت د میزانې ولسوالۍ په ټکیر سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید او بل ژوبل شوی دی.

د مارچ په ۲۰مه د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په بادرو سیمه کې اربکیانو د قطب الدین په نوم یو رکشه چلونکی شهید کړی دی.

د مارچ په ۲۱مه د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ په شهرکهنه سیمه کې د حکومتي عسکرو په یو هوایې برید کې یو ملکي وګړی شهید شوی او خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

د مارچ په ۲۲مه د هلمند ولایت د ګرمسیر ولسوالۍ د سربند په سیمه کې داخلي عسکرو د ولسي خلګو پر یو فلاډرموټر ډزې کړې چې له امله یې موټر چلونکی شهید شوی او درې تنه سپاریان یې ټپیان شوي دي.

د مارچ په ۲۲مه د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د کوچنۍ منارې په سیمه کې د حکومتي ځواکونو د هاوان په ډزو کې دوه کورونه لګېدلي او په همدې کورونو کې ښځو او ماشومانو ته مرګ ژوبله او ښتې ده، وروسته چې خلکو د همدې پیښې ټپیان ښار ته درملنې لپاره انتقالول د ناګهان په سیمه کې بمبار پرې شوی او د همدې زخمیانو په ګډون نهه تنه ولسي وګړي شهیدان او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د مارچ په ۲۲مه د خوست د صبریو ولسوالۍ په مکتب بازار سیمه کې حکومتي عسکرو د یاد شوي بازار ګڼ دوکانونه نړولي او څلور تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي دي.

د مارچ په ۲۲مه حکومتي ځواکونو د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ د سنګک بازار باندې ډیسي توپونه او هاوانونه پیر کړي چې له امله یې یو ملکي وګړی شهید شوی او اووه تنه ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۲۳مه د زابل ولایت مرکز قلات د نورک په سیمه کې حکومتي لاره ساتونکو عسکرو یو موټر چلونکی په دې خاطرشهید کړی، چې دوی ته یې پیسې نه ورکولې.

د مارچ په ۲۳مه دهلمند ولایت د واشېر ولسوالۍ او د مرکز لښکرګاه د باباجي د ښوراب په سیمه کې د ۲۱۵ میوند قول اردو د قومندان جنرال سمیع سادات په مشرۍ عسکرو د ملکي وګړو لسګونه کورونه په بلدوزرونو نړولي او پنځه ویشت تنه ولسي- وګړي یې شهیدان او ټپیان کړي دي. خلکو د دې کړنې پر ضد مظاهره کړې او د هرات- کندهار لویه لار یې ټرلې وه.

د مارچ په ۲۴مه د خوست ولایت دوه منده ولسوالۍ کې د کمپاین عسکرو د (ګل اغا) په نوم د سیدخیلو یو تن دیني عالم بندي کړی او بیا یې شهید کړی دی.

د مارچ په ۲۴مه د زابل ولایت په سیوري ولسوالۍ کې حکومتي الوتکو د CHC په نامه یو صحي کلینک چې د عامو خلکو درملنه پکې کیده بمبار او تخریب کړی دی.

د مارچ په ۲۴مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په تاجکانو کلي کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۲۴مه د بغلان د پلخمري ولسوالۍ په مکتب بالا دورې سیمه کې د حکومتي عسکرو په توپچي بریدونو کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۲۴مه د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ په ترکو کلي کې د حکومتي عسکرو د ډیسي- توپ په بریدونو کې یوه میرمن او دوه ماشومان شهیدان شوي دي.

د مارچ په ۲۷مه رسنیو خبر ورکړ چې د خوست ولایت په صبریو ولسوالۍ کې د کمپاین عسکرو د ولسي وګړو پر کورونو چاپې وهلې او بریدونه یې

پرې کړي دي، د عيني شاهدانو په وينا په دې بمباريو او چاپو کې نولس تنه ملکي هيوادوال چې زياتره يې ښځې او ماشومان دي شهيدان شوي او پنځه تنه ټپيان شوي دي.

د مارچ په ۲۸مه د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ په سالارو سيمه کې عسکرو پر ولسي خلکو ډزي کړې چې له امله يې يو تن شهيد اوبل ژوبل شوی دی.

د مارچ په ۲۹مه د هلمند د ګرشک ولسوالۍ د مهاجربازار په سيمه کې حکومتي عسکرو د ولسي-خلګو پر کورونو د هاوان بريدونه کړي چې له امله يې پنځه تنه ولسي وګړي چې ټول سره ورونه وو، شهيدان شوي دي.

د مارچ په ۲۹مه د فارياب ولايت د بلچراغ ولسوالۍ په ګل تپه سيمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې يو ملکي وګړی شهيد شوی دی.

د مارچ په ۲۹مه د فارياب ولايت د قيصار ولسوالۍ په بازار کې د حکومتي عسکرو دهاوان په برید کې يو ملکي وګړی شهيد شوی او بل تن ژوبل شوی دی.

د مارچ په ۲۹مه د کندهار ولايت د ارغنداب ولسوالۍ د جوی لاهور اوسيدونکي (ملا يار محمد) جسد پيدا شو، نوموړی يو مياشت مخکې کمانډويې عسکرو له خپله کوره بهولی و او بيا شهيد کړی و.

د مارچ په ۳۰مه د ارزګان مرکزترينکوټ د پاې ناوې د سرې کلا په سيمه کې (دمرکز او دهراود ترمنځ پرغزيدلي لاره) د ملنګ د پوستي عسکرو دوه تنه ملکي وګړي چې په لاره روان وو، شهيدان کړي دي.

د مارچ په ۳۰مه د پروان ولايت د بګرام ولسوالۍ د چليکک کلي کې ميشتو عسکرو يو بزګر چې خپل پټي کې يې اوبه لګولې، شهيد کړی دی.

د مارچ په ۳۰مه د ميدان وردګ ولايت د بند چک ولسوالۍ په شاه قلندر بازار کې داخلي عسکرو د انبوخاک د ليسې استاد (نو الرحمن) شهيد کړی دی.

د مارچ په ۳۰مه د فارياب ولايت د جمعه بازار ولسوالۍ په بازار کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې يو ملکي وګړی شهيد بل ژوبل شوی دی.

د مارچ په ۳۱مه د هلمند د واشېر ولسوالۍ دشرينک په سيمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې يو ماشوم شهيد شوی دی.

د مارچ په ۳۱مه د ننګرهار ولايت د حصارک ولسوالۍ په ظريف خېلو، ناور او ميز غونډۍ سيمو کې د حکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې لس تنه ولسي وګړي د ښځو او ماشومانتو په ګډون شهيدان او ټپيان شوي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډيو، ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک =، ټول افغان ويپانه، لراوبر=، نن ټکی اسياوو=]

جنګي جنايتونه (اپريل)

د ۲۰۲۱ز کال، د اپريل د مياشتې په لومړۍ نيټه د زابل ولايت مرکز قلات نورک کلي ته څېرمه د پوستې عسکرو يو ملکي سړی چې له خپلې کروندې کور ته روان و، شهيد کړی دی.

د اپريل په لومړۍ نيټه د لغمان ولايت د عليشنګ ولسوالۍ په رهين سيمه کې داخلي عسکرو د فضل الرحمن په نوم يو ولسي وګړی چې په ژبه ګونګ و، شهيد کړی دی.

د اپريل په لومړۍ نيټه د پکتيکا ولايت د سرحوضې ولسوالۍ په نرۍ سيمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې يو ملکي وګړی شهيد شوی دی.

د اپريل په ۲مه د بادغيس ولايت د ابکمري ولسوالۍ په سنګ لو سيمه کې د داخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې پنځه تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د اپريل په ۲مه د لغمان ولايت د عليشنګ ولسوالۍ په کوټالي سيمه کې دحکومتي ځواکونو د ډيسي توپونو په پيرونو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون يوولس تنه ولسي وګړي ژوبل شوي دي.

د اپريل په ۲مه د خوست مرکز د ورغه کلي سړو اوبو سيمه کې دکمپاين عسکرو يوملکي وګړی شهيد کړی دی.

د اپريل په ۲مه د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ په ګوچ سيمه کې د صفر دوو قطعې عسکرو د چاپې په مهال دوه تنه ملکي وګړي شهيدان او څلور ټپيان کړي دي.

داپريل په ۲مه د بغلان ولايت د مرکزي بغلان ولسوالۍ په ګرداب نوابا د کلي کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال د ګنډوکورونو دروازې ماتې کړې، خلک يې وهلي، نقليه وسايط يې سوځولي او يو ملکي وګړی يې شهيد کړی دی.

د اپريل په ۳مه دهلمند ولايت دمارجې ولسوالۍ دکيمپ په سيمه کې داخلي عسکرو يو ماشوم شهيد کړی دی.

د اپريل په ۴مه دفارياب ولايت دقيصار ولسوالۍ په بازارکې د داخلي عسکرو په ډزو کې يو ملکي وګړی شهيد او بل ژوبل شوی دی.

د اپريل په ۴مه د پکتيکا ولايت د زيړوک ولسوالۍ په سري ميدان سيمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې يو ماشومه شهيده شوې ده.

د اپريل په ۴مه د خوست ولايت د عليشيرو ولسوالۍ د لنډرو کلي په مسجد کې د کمپاين عسکرو يو مسافر شهيد کړی دی.

د اپريل په ۵مه دغور ولايت دمرکز فيروزکوه په برخانه سيمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې يوه ښځه شهيده اويوه بله زخمي شوې ده.

د اپريل په ۵مه د بدخشان ولايت د بهارک ولسوالۍ په ملنګاب سيمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوه ملکي وګړي شهيدان شوي او يو ماشوم ژوبل شوی دی.

د اپريل په ۵مه دهرات ولايت د شينډنډولسوالۍ دبخت آباد په سيمه کې حکومتي چورلکو پر يوه جنازه

بریدونه کړي چې له امله یې دوه تنه کلیوال شهیدان اوګڼ شمیر زخمیان شوي دي.

د اپریل په ٦مه د کونړ ولایت د چپې درې ولسوالۍ په ګړنګل سیمه کې د حکومتي عسکرو په بمبار او توپچي بریدونو کې یوولس تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۷مه د خوست ولایت مرکز د لکنو په تورو اوبو سیمه کې د کمپاین عسکرو د محمدانور په نوم یو عام وګړی د لویي لارې په سر له موټره کښته کړی او بیایې شهید کړی دی.

د اپریل په ۷مه د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې د ډاکتر جلیل درملتون ویجاړ شوی دی.

د اپریل په ۷مه دغور ولایت د تیوره ولسوالۍ په یخن سفلي سیمه کې دحکومت په بمبار کې څلور تنه ماشومان او ښځې زخمیان شوي او ځینې کورونه زیانمن شوي دي.

د اپریل په ۸مه د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د کرتو د ماشین بازار کې د حکومت په بمبار کې څلور تنه زده کوونکي چې له ښوونځي کور ته روان وو، شهیدان شوي او همداراز ۲۰ دوکانونه زیانمن شوي دي.

د اپریل په ۸مه د خوست ولایت د اسماعیل خیلو ولسوالۍ په حسن زیو کلي کې د کمپاین عسکرو د چاپې په مهال یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د اپریل په ۹مه د جوزجان ولایت د منګجیک ولسوالۍ په چارشنغګو کلي کې په یوه ډرن حمله کې یو مسجد شهید شوی او درې دوکانونه زیانمن شوي دي.

د اپریل په ۹مه د نورستان ولایت د دواب ولسوالۍ د ژونیه درې په مربوطاتو کې دحکومتي ځواکونو دتوپچي په ډزو کې دوه شپونکیان شهیدان شوي دي.

د اپریل په ۹مه د بلخ ولایت د شولګړې ولسوالۍ په بودنه قلاه سیمه کې دحکومت په هوایې برید کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د اپریل په ۱۰مه د هلمند ولایت دګرشک او ښوراب تر منځ دمهاجربازار په سیمه کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې لس تنه ولسي- وګړي ټپیان او درې تنه شهیدان شوي دي. د اپریل په ۱۰مه د جوزجان ولایت د خواجه دوکوه ولسوالۍ په لب جرګریش سیمه کې حکومتي عسکرو د دارالعلوم قریشیې مدرسې مهتمم ویشتلی او زخمي کړی دی.

د اپریل په ۱۱مه د سرپل ولایت دسیداباد ولسوالۍ په زکه سیمه کې حکومتي عسکرو درې تنه ولسي وګړي شهیدان کړي، اووه تنه یې ټپیان کړي دي، د خلکو نقلیه وسایط، حیوانات او قیمتي توکي یې له ځان سره وړي او د مسجد په شمول ځینې کورونه یې سوځولي دي.

د اپریل په ۱۱مه دسرپل ولایت د الجهاد ولسوالۍ په سنګ توده سیمه کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د اپریل په ۱۱مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ د افغانیه درې په چهارکلا سیمه کې داخلي

عسکرو یو ملکي وګړی چې په خپل پټي کې یې اوبه لګولې شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۲مه د بلخ ولایت د شولګړې ولسوالۍ په سدمیش سیمه کې حکومتي عسکرو درې تنه ملکي وګړي شهیدان کړي او د خلکو نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

د اپریل په ۱۲مه دهلمند ولایت دګرشک او ښوراب ترمنځ دنري مانده په سیمه کې حکومتي عسکرو درې تنه بزګران شهیدان او ټپیان کړي دي.

د اپریل په ۱۲مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ په سرخ کوتل سیمه کې داخلي عسکرو یو ماشوم شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۳مه د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالۍ په قلعه قاضي کلي باندې د کمپاین عسکرو چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، یو درملتون یې سوځولی، د خلکو له کورنو یې قیمتي توکي او نغدي پیسې وړې او درې تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي دي.

د اپریل په ۱۳مه د بدخشان ولایت مرکز کې حکومتي عسکرو د نواباد دهن اب سپینګل کلي د مسجد ملا امام شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۳مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ دمرکز په مربوطاتو کې داخلي عسکرو (حافظ محمدیونس د معلم محمدرقیب زوی) چې په لاره روان و، شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۳مه د هلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ دسیدانو په سیمه کې داخلي عسکرو یو موټرچلونکی د ناقانونه پیسو د نه ورکولو په وجه شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۳مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ د سرخ کوتل په دوسره او د مکتب بالا دورې سیمو کې د حکومت په بمبار کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي او خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

د اپریل په ۱۴مه دبلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ په حسن خیلو سیمه کې حکومتي الوتکو پر یو مسجد برید کړی، په دغه برید کې مسجد شهید شوی او مسجد ته نژدې یو کور کې یوه میرمن او سړی شهیدان شوي دي.

د اپریل په ۱۷مه د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ په بازار کې سنګوري اربکیانو یو ماشوم شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۸مه د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ د کیمپ په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې یوه ښځه شهیده شوې ده.

د اپریل په ۱۸مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په بوس تپه سیمه باندې داخلي عسکرو ډیسي توپونه ویشتلي، چې له امله یې یوه ماشومه شهیده شوې او یوه میرمن ټپي شوې ده.

د اپریل په ۱۹مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په ایسکي سیمه کې د حکومت په بمبار کې یوه میرمن شهیده شوې او یو سړی ژوبل شوی دی. همداراز د دې ولسوالۍ موټر شویي پله ته څېرمه هم د حکومت په بمبار کې یو سپین ږیری شهید شوی او کور یې ویجاړ شوی دی.

د اپریل په ۱۹مه د هلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ په کونجک کلي کې اشغالګرو د طالبانو

پر یو محبس دوه ډرون بریدونه کړي چې له امله یې شپږ تنه حقوقي او جنایي بندیان شهیدان شوي او یو تن ژوبل شوی دی. تر ډرن بریدونو وروسته پر یاد شوي زندان داخلي کمانډویې عسکرو چاپه وهلې، خلک یې وهلي او تهدید کړي او اته ویشت تنه نور جنایې او حقوقي اسیران یې له ځان سره وړي دي.

د اپریل په ۲۰مه د بدخشان مرکز فیض اباد کې داخلي عسکرو یو ملکي سړی شهید کړی دی.

د اپریل په ۲۰مه د غزني ولایت مرکز اړوند نوابا سیمې په ارزو کلي باندې حکومتي عسکرو بمبار کړی چې له امله یې دوه ملکي وګړي شهیدان شوي او یو تن ژوبل شوی دی.

د اپریل په ۲۰مه دغور ولایت دالله یار ولسوالۍ په اسفه سنګ او جري سرخ سیمو کې اربکیانو د ملکي خلکو پر کورونو یرغل کړی، یوه میرمن او یو ماشوم یې شهیدان کړي، یو تن یې ژوبل کړی او دوه ماشومان یې له ځان سره بېولي دي. اربکیانو پر ملکي تلفاتو سربیره خلکو ته پراخ مالي زیانونه هم اړولي دي، ګڼ نقلیه وسایط او ۱۳۰ کورونه او دوکانونه یې وران او سوځولي دي.

د اپریل په ۲۰مه دهرات ولایت په غوریان ولسوالۍ کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی (ارباب سیداحمد طاهري د حاجي عبد المجید طاهري زوی) له خپله کوره وړی او بیا یې په چاړه حلال او ټوټې ټوټې کړی دی.

د اپریل په ۲۱مه حکومتي عسکرو د نیمروز ولایت د خاشرود ولسوالۍ په منار سیمه کې پر سړک جوړونکو چاپه وهلې، څلور تنه کاریګر یې شهیدان او ټپیان کړي، د سړک جوړنې وسایل یې سوځولي او شپږ تنه انجنیران او کارکونکي یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د اپریل په ۲۱مه د زابل ولایت د مرکز اړوند د باوړیو په قبائل سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د اپریل په ۲۲مه د پکتیا ولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ په جګ کوټکي کلي کې اربکیانو دوه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د اپریل په ۲۲مه د کاپیسا ولایت د اله سای ولسوالۍ په وزګر، خنجرخیلو او صادقانو سیمو کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید شوی او د یوې میرمنې په ګډون دوه تنه ژوبل شوي دي.

د اپریل په ۲۳مه د لوګر ولایت مرکز بابوس سیمه کې اشغالګرو د ولسي وګړو یو موټر په نښه کړی، چې له امله یې موټر چلوونکی او یو ماشوم شهیدان شوي دي.

د اپریل په ۲۳مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په پشکړي او شاتورو سیمو کې داخلي عسکرو دچاپې په مهال یوه ماشومه او یو سړی شهیدان کړي دي.

د اپریل په ۲۴مه د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په اوتړیو کلي کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې درې ماشومان شهیدان شوي او پنځه تنه ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۲۴مه د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ په خوګیانو کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی او یو بل تن ژوبل شوی دی.

د اپریل په ۲۵مه د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په خاشاه سیمه کې داخلي عسکرو د ولسي خلکو په کورونو ډیسي توپونه ویشتلي، چې له امله یې یوه ماشومه شهیده شوې، یوه میرمن او درې ماشومان ژوبل شوي دي.

د اپریل په ۲۵مه د میدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ په زرولنګ کلي کې د حکومتي ځواکونو په بمبار کې اووه تنه ملکي هیوادوال چې خپلو پټیو کې په کار بوخت وو، شهیدان شوي دي.

د اپریل په ۲۶مه دغور ولایت د تیوره ولسوالۍ د یخن علیا په سیمه کې حکومتي الوتکو پر یوې مدرسې بمبار کړی، په دغه بمبار کې مدرسه ویجاړه شوې، خو د ځاني تلفاتو په اړه یې تر دې دمه خبر نه دی ورکول شوی. د اپریل په ۲۶مه د کونړ ولایت د منوري ولسوالۍ په پیتاو کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه ماشومه شهیده شوې ده.

د اپریل په ۲۶مه د تخار ولایت د نمک اب ولسوالۍ په خمیرخواران سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یوه ماشوه شهیده شوې ده.

د اپریل په ۲۶مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ په بازار، بېش بلا او سر آسیاب سیمو کې د حکومتي ځواکونو دتوپچي په ډزو کې درې تنه کلیوال ټپیان او دوه تنه شهیدان شوي دي.

د اپریل په ۲۶مه د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ په چرچرک کلي کې داخلي عسکرو د یوې سیمه ییزې مدرسې زه کوونکی شهید کړی دی.

د اپریل په ۲۷مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ په دهمزنګ سیمه کې اربکي قوماندان عبدالرزاق یو ملکي وګړی (محمد نسیم) شهید کړی دی.

د اپریل په ۲۷مه د ننګرهار ولایت د سره رود ولسوالۍ په کړسو سیمه کې اربکیانو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د اپریل په ۲۸مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په سریانو سیمه کې د حکوتي الوتکو په بمبا رکې یوه ماشومه شهیده شوې او دوه ماشومان ژوبل شوي دي.

د اپریل ۲۹مه دهلمند ولایت د ګرمسیر ولسوالۍ دخاري په سیمه کې دحکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې څلور تنه ملکي وګړي شهیان او ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۲۹مه د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ د سرې کلا په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې پنځه ماشومان او یوه میرمن ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۲۹مه د لغمان ولایت د بادپښ ولسوالۍ په سپینه کلا کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې لس تنه ملکي وګړي ټپیان شوي او یو تن شهید شوی دی.

د اپریل په ۲۹مه حکومتي عسکرو د لغمان ولایت مرکز کې د علیشنګ له کلي څخه د تېښتي پر مهال دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي او بیا یې تر ټانګونو لاندې کړي دي.

د اپریل په ۳۰مه د جوزجان مرکز ترکمن قندوق سیمه کې اربکیانو پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو، ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک =، ټول افغان ویپانه، لراوبر=، نن ټکی اسیااو=]

پردیو ګټو پسې راغلي، د هغوی ښاغلي او آغلي!!

سعد کټوازی

د یوه کاله چې په شاوخوا کې بدمرغۍ پېښېږي، خو خپله هغه په ټول وخت او تر ډېرې مودې کومه ناخواله نه وې لیدلې او تر یو حده امن ګڼله کېږي، نو د ګاونډ او شاوخوا په پرتله د سپین ټوکر په څېر وي چې پرې وړوکی ټپ هم لوی ښکاري او یوه پېښه چې د هغه په شاوخوا کې عادي او ډېره را منځته شوې وي، د همدې سیمه ایزو شرائطو له امله دلته له خیاله لوړه، د عادت خلاف او نادره برېښي چې په رښتیا هم لکه څرنګه چې ولیدل شول ډېره زیاته غمېږي.

یو وحشت له دې امله هم ډېر دروند وي چې ترسره کونکي یې که څه هم د هغه لپاره په وحشي- روحیه روزل شوي، پالل شوي، ساتل شوي او بیا په دې هرڅه پېژندل شوي هم وي، خو د کومې دیني رشتې، عقیدوي او ملي موانعو او په عام فکر ګډو دیني او ملي منافعو- ارزښتونو او عنعناتو له امله یې تړې ډېره تمه نه کېږي او څوک یې جدي ګوابښ نه ګڼي، خو چې په واقع کې د یادې شومې انګېزې پر غوښتنه جدي ګوابښ وي او وروسته د ځمکنۍ واقعیت په توګه رامنځته او پېښ هم شي، ډېره زیات درنېږي.

مهالني شرائط هم د یوې پېښې په حجم کې د پام وړ رول لرلای شي، په داسي حال کې چې زمور د هېواد کشاله په دې وروستیو کې د سیاسي او ډیپلوماټیکو تضادونو ښکار ګرځېدلې، د کشالې حل خورا نږدې، یواځنی فرصت یې رامنځته شوی، شرائط یې هم دومره ښه برابر دي چې نور تقریباً پر سوله تعبیرېږي او ورسره د وحشتونو د لړۍ پای ته رسېدو هیلې او امیدونه هم غښتلي او ګړندی ګام وهي، بیا هم یې پر مهال او تضاد وحشي- پېښې رامنځته کېدل یوه ستره ننګونه ده او په ټوله کې د زمان او مکان/سیمه یېز او مهالني شرائط د پېښو پر کمیت خورا زیات اغېز لري.

یو وحشت او جنایت چې پر چا ترسره شي/کېږي، له دې امله هم له زغمه وخي چې هغه خپل شته برأت (چې تر ټولو کره او رښتونی حقیقت وي) ویني، هغه ته ګوري او پرې تکیه وي، سپین ږیري، مېرمنې، ماشومان، د مدرسې او مکتب شاګردان او محصلین او دا ډول بل هر وګړی چې (د جګړې له ناخوالو او ترخو ناخبر او لیرې هم وي، په داسي شرائطو کې د جګړې د اصولو له مخې په مطلق ډول له وژلو مستثنی هم دي او...) قسم خوړلی دښمن یې د حقونو خوندیتابه، امنیت د تأمین، ازادۍ ورکولو او ژوند ژغورنې پوره ډاډ ور کړی وي، په همدې پلمو یې کلونه د ځان په تمه او له خپلو هر ډول وحشتونو اغفال کړی وي او خپله هم له هغه څه بشپړ پاک او لیري وي چې غلیم یې پرې د ترسره کړي وحشت پلمه ګرځوي او پرې توجیه کوي یې، خو بیا یې هم پر نه کړې ګناه او

جرم د تمې بشپړ سرچپه، په دومره ناڅاپي او بې پرواهۍ، خورا قساوت او بې دردۍ ووژني، رښتياهم چې زغم يې په سينه کې د زړه پر ځای غرونه غواړي.

په دې وروستيو کې د خوست صبريو، هلمند ناوې او تازه د کابل دښت برچي او ورپسې شکردرې له وحشته ډکې پېښې له همدې جملې وې، خوست ولايت د نور هېواد په پرتله د ولسي وګړو لپاره يو امن سيمه ګڼله کېږي چې پکې پر ګډه پوله پروت شمالي وزيرستان کډوالو ترڅنګ په کور دننه ځينې ولايتونو ولسي خلك هم دلته مېشت او استوګن دي، خو د د ې ولايت اړوند صبريو ولسوالۍ کې وروستۍ پېښه خورا بوږنونکې وه، همداراز د هلمند ناوه چې د ولسونو يې د کابل اداري او طالبانو ترمنځ دوه خواوي سترګې کېږي کړې وې ترڅو ارامه فضا ورته را منځته کړي او له ډېرو کړاوونو زغملو وروسته يې اوس د طالبانو تر حاکميت لاندې د ارام سا اخيستې هم وه، سيمه امن او ولسونه يې د خپلو چارو بياځل فعالولو بوخت ساتلي و او د يوې داسي ورځې تمه څه چې ورباندې راتلل يې د قيامت راتلو مرادف ګڼل کېده.

تازه د کابل دښت برچي او شکر درې پېښې خو د همدغه قسم خوړلي دښمن د مفسد باندې تر پوزه لاندې د همدوی د استخباراتي کرايي قاتلانو له لوري رامنځته شوې او د يو زبده عالم په توګه د افغاني ټولنې سترې سرمايې مفتي محمد نعمان فضلي په ګډون زياتر پکې هغه مېرمنې او وګړي وژل شوي او ټپيان دي چې د حقونو ساتلو، ازادي ور کولو، دولتي ادارو کې د ښه رول، سوله کې د حقونو خوندیتابه او نورو ډول ډول پلمو يې دوی شل کاله پر ټولو هېوادوالو خپله خاوره سره تبې کړې، د اشغال اور ته د کربوړو په څېر پوکی وهي، شل کلنې لاسته راوړنې يې ګڼي او... او... دې هرې پېښې د هر رښتوني افغان احساس خخمي خخمي کړ، هوښ ته يې ستر ټکان ورکړ، پر وجدان يې ملامت کړ او له يو بې ساري وسلوال غچ پرته مې (چې پکې همدغه ښکېل وحشتګر او په مستقيم ډول پکې لاس لرونکي په نښه او بشپړ له منځه يوړل شي) ضمير پر بل هيڅ ورسره راضي نشي.

د صبريو او هلمند په پېښو کې د مېرمنو او ماشومانو په ګډون ګڼ ولسي وګړي په خورا وحشت او بې دردۍ ووژل شول او د کابل لومړۍ پېښه له ښوونځي د نجونو د رخصتېدو په حال کې او دوهمه يې د جمې د لمانځه پر مهال رامنځته شوه، دا چې لومړۍ دوه پېښې په ښکاره د اشغالګرو او د ارګ مفسد باند کړنې وې، د مزدورو رسنيو لخوا ورته پراخ انعکاس ور نکړل شو او نه هم چا پرې ډېره خواشيني وښوده، خو د کابل پېښې چې د همدې مفسد باند له لوري په مرموز ډول د هغه د شومو موخو لپاره را منځته شوه، پراخه انعکاس او په لومړيو کې هڅه وشوه پر طالبانو يې ور وتپي، خو وروسته د طالبانو له لوري له ردېدو او توند غبرګون ښودلو سربېره کره اسنادو هم د هغو مرموز پاتې کېدل ناشوني کړل، د داعش له جعلي آدرسه يې بېرته پل د ارګ ملي امنيت ته ننوت، د امرالله سالې تر درشله ورسېد او د ارګ پارلمان هم ومنله چې لوبه همدلته پلان او بيا تطبيق شوه.

دا چې د ارګ مفسدين او په ځانګړې غني له يوې ډېرې بدې ورځې، انزوا، يواځيتوب او آن له دومره سختې وارخطايۍ سره مخ دی چې يواځې ولسي وګړي نه، بلکې لاپه خپلو عسکرو او چارواکو پسې يې هم را اخيستې، د کابل پر پوهنتون له برید را وروسته د چارواکو، متنفذينو او د ارګ منتقدينو د وژنو لړۍ خو له هيڅا پټه نه ده، په دې وروستيو کې په لوګر کې پر

اربکیانو/پولیسو هم یو دروند مرموز برید ترسره شو چې تر اوسه یې چا پرې نه ده منلې او لکه د کابل پوهنتون د برید په تعقیب دا ځل یې بیا هم له دې پښې سره د طالبانو پر وړاندې د فکري جګړې غاړې تازه کړې او رسنۍ، خبریالان، سیاسیون او... یې وګوابنل ترڅو د طالبانو پر پلوی څرګندونې، خپرونې او د هغوی د پرمختګ خبر ور نکړي، ورپسې یې د دښت برچي مرموز برید ترسره شو چې د کابل پوهنتون برید په څېر دا هم ډاریك پر ارګ خپلو تاوان او وانښت.

دغه د مفسدینو باند د بهرنیو ځواکونو له وتو وروسته د ولس له قاهرانه نیونې څخه د خپل ګریبان خوندیتوب یواځې د واك په بقا کې وینې، نو ځکه یې هغو غورځو پرځو ته کار ویلی چې نه پر درد ورته خوري او نه یې له دې ور هاخوا څه په توان کې شته، د مرګ کندې ته ټېل وهلې عسکر او د منځنۍ کچې غولېدلي چارواکي یې په یوه ډېره ستره ازماینه کې را ګیر کړي چې د دوی د خیالي موخو او ګټو لپاره د مرګ په خوله کې د ژوند وروستۍ شېبې شماري، په دې حال هم چې دوی د خپلو لویدیځو بادارانو متزلزل دریځ ته په تمه د خپلې بقا خوبونه وینې، داپه رښتیا د دغې موخې لپاره تر ټولو ستره ازماینه ور کول او ډېر زیات ستونزمن حالت پر ځان وړل دي او دا هم ښه جوتوي چې دوی د بهرنیانو له وتلو وروسته خپل برخلیك او د ولس له لوري محاکمې څومره زیات وار خطا کړي.

په دې وروستیو کې د دوحې ټرون په نقض د جوبایدن اعلان، کابل ته د امریکا دفاع او خارجه وزیرانو او ورپسې یې د استخباراتو مشر ناڅاپې او پټو سفرونو، د بندو دروازو شاته د امریکا خارجه وزیر له غني سره لیدنې، په لویدیځو رسنیو کې د افغانستان د کړکېچ او د بهرنیو ځواکونو د وتو پر ټراو ګرمې تبصرې- شننې- ارزونې، د امریکا ولسمشر جوبایدن وروستۍ څرګندونې او په ښکاره جدي دریځ نیولو، د ځواکونو په ایستلو کې د بهرنیو هېوادونو یو له بله د مخکې کېدو هڅې او له بېلابېلو زاویو یې رامنځته کړو ګټو مثبتو او منفي پایلو په کابل کې د ارګ مفسدین له سختې سرسامۍ او سربدالۍ سره مخ کړي.

دومره زیات چې آن دوه هوایي خبرې یې هم پر یوه ځغاست لیکه نه سره برابرېږي، لویدیځو رسنیو او خبري سرچینو ته په مرکو او څرګندونو کې زیاتر رښتیا او څومره چې دوی مصلحت ګڼي دروغ وایي او دا له دې امله چې له یوې خوا د لوېدیځتوب له وجې د رسنیو همکاران هم دوی ته د لویو امریکایي چارواکو حیثیت لري او له بلې خوا دوی فکر کوي د انزوا په دې څلور دېوالۍ ژوړې کې چې یواځې همدې رسنیو د یوې مرکې او خبرې چانس ور کړی له هغه په استفاده د یادو رسنیو او د هغوی د همکارانو له لارې د خپلې وارخطایۍ او بدې ورځې غږ تر خپلو بادارو امریکایي چارواکو او هغو هېوادونو ور ورسوي چې دوی یې تابعیت لري، د ګټو لپاره یې دلته راغلي او د خپل واك بقا یې ورپوري تړلې وي.

خو کورنۍ رسنۍ، خبري ناستې او ځینې نور مناسبتونه او نشستونه چې پرې بادارانو ته غږ نه رسېږي، د لوېدیځو رسنیو ځانګړې او د باداري رمز او صبغه نلري، بلکې د همدې مفسدینو په څېر او د دوی په واك کې ور کړل شوې د مزدورو مزدورې دي هغو ته د لوېدیځو رسنیو سرچپه بشپړ دروغ وایي، دروغجنه خود کفایي څرګندوي، دروغي شعارونه- دعوې- وعدې او لاپې شاپې زمزمه کوي او له همدې لارې دغه مفسد باند یوه خورا مرموزه معامله هم پرلار او کار اچولې ترڅو تېر ایستلي عسکر او د ټیټ پوړ او ځینې منځنې

چارواکي تر وروستۍ سا پرې د خپلو ګټو او بقا لپاره د مرګ او ژوند ترمنځ ګیر وساتي او که بیا اشغالګر ووزي نو دوی د همدې عسکرو او چارواکو د سرونو او ژوند په بیه له چور کړو مالیاتو سره روغ سرونه وتښتي او له همدې امله یې هر ځل څرګندونې یو له بلې سره ټکر او تضاد کې، یاهم د دوی تر کچې ډېرې لوړې او یا سرچپه یې د خورا لوړلي حیثیت څرګندویې وي.

څو ورځې وړاندې د ارګ مفسدینو د بانډ د کار پرزې حمدالله محب په کورني مودې او آپشن کې د بهرنیو ځواکونو له وتلو سربېره د احتمالي مرستو دوام ته په اشاره ویلي و: دوی ته د بهرنیو مرستو کیفیت نه بلکې کمیت مهم دی، نوموړي د اشغالګرو له لوري د احتمالي مالي او لوجستیکي مرستو ور کړي ډاډ پر استناد په تېر پسې بیا هم وویل چې د بهرنیو ځواکونو وتل هیڅ ستونزه نه پېښوي چې د ده په خبره دوی اوس یو منظم ځواک او حکومت لري او کولای شي له اشغالګرو پرته هم له ځان څخه ساتنه وکړي.

خو په بهرني مودې او آپشن کې یې یوې امریکایي رسنۍ ته د مرکې پر مهال بیا چیغې پورته شوې چې د اشغالګرو ځواکونو وتل یې غیر مترقب او له تمې خلاف یاد کړل، په خبره یې یرغلګر باید دومره زر (د سپتمبر تر۱۱مې) نه وای وتلي او زیاتوي: که څه هم د ملاتړ ډاډ ور کول شوی، خو دا چې ښایي طالبان د ولایتونو د سقوط فکر ولري، نو دوی لا هم د جدي ګوابښ پر وړاندې قرار لري او باید له امنیتي اړخه پر پښو درېدلي وای، محب زیاته کړه: که اشغالګر یې دومره زر پرېږدي ښایي ځینې مهم ولایتونه یې له کنترول څخه ووزي او طالبان یې تري ونیسي.

خو یو ځل بیا هم یې په کورني مودې او آپشن کې ځان دومره خود کفا؟؟ څرګند کړ چې آن د سولې په برخه کې یې طالبان په ناسم آدرس وبلل او په خبره یې چې له دوی سره دي د سولې مذاکرات وکړي او همدوی د سولې رښتونی آدرس دی، نه د دوی بادار اشغالګر، تازه یې یوځل بیا هم له سې بې ایس تلویزیون سره مرکه کې امریکا د ځواکونو ایستلو کې پر بېړه تورنه کړه، هغه ویلي: دوی تمه درلوده او ښه یې ګڼله چې بهرني ځواکونه څو کلونه وروسته وتلي وای ترڅو د وتو پر مهال یې افغان ځواکونو اړینې وړتیاوي لرلای او د بهرنیو ځواکونو پر وتلو د کومې تشې احساس نه کېدلای.

له محب یو دوه ګامه وړاندې اشرفغني او امرالله سالې دا ډول متضادي څرګندونې خو زښتې زیاتې او له چا پټې هم نه دي چې زیاتره دغه تضاد د سرو او شنو کرښو، واشنګټن ساتنې، د جګړې او سولې د واک او د دې د اصلي لوري ټکو په ښه او په هغو کې را څرګندېږي، د محب یادې څرګندونې هم ټولې وروسته له هغې وې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر او اشرفغني د بندو دروازو شاته لیدنه وکړه، د هغې په اثر په لومړي ځل د اشغالګرو وتو ته اشرفغني لیوالتیا څرګنده کړه او په بېلابېلو څرګندونو کې یې له دغې پروسې ملاتړ وکړ او خپل باندې یې خودکفاء تلقی کړ، آن چې هغه او سالې یو په بل پسې دا ادعا هم وکړه چې ګني اشغالګر د دوی پر غوښتنه افغانستان پرېږدي او د دوی د هڅو په پایله کې وزي، له دې وړاندې نوموړو محب ته ورته څرګندونې درلودې او سالې په ډاګه کړې وه چې افغان جګړه خپلمنځي نه، بلکې د اشغالګرو او طالبانو تر منځ ده او دوی پکې له اشغالګرو سره د ګډو کټو پر بنسټ له هغوی سره درېدلي، ولاړ دي،

افغانستان کې د اشغالګرو پر پاتې کېدو ټینګار لري او خواشینې یې ښودلې وه چې هغوی یې بیاهم یواځې پرېږدي.

د ارګ باندې مفسدین له هغو هېوادونو چې دوی یې تابعیتونه لري او دلته پر مزدورۍ چوپړ ورته وهي، د همدوی په ګټو پسې را وارد شوي او راغلي او په همدې کې ښاغلي او آغلي هم دي، نو د څرګندونو د تضاد یو لامل یې دا هم دی چې دوی د همدغو پردیو له متزلزل موقف سره راڅرخي، چې هر رنګ او هرڅه هغوی وغواړي، هر لور ته یې موقف تغیر او بدلون پیدا کوي او هر رنګه پرېکړه وکړي، دغه مفسدین اړ دي د دې هر موقف اړوند مختلف رول ترسره کړي او تر هرڅه زیات یې په دې تمه دي چې ښایي د اشغالګرو کوم موقف ضمناً د دوی د واک بقاتضمین کړي، په همدې تار او مدار دوی خپلې ګټې (د واک بقاء، مبهم ګوابنونکی برخلیک او د ولس له محاکمې خلاصون) له بهرنیانو سره ټړي او مشترکې یې ګڼي، خو په واقع کې ګټې نه، بلکې د هغو نقطې (ما به الاشتراك) او علتونه (د بهرنیانو متزلزل موقفونه) یې مشترك دي او د دواړو ګټې په دوو جلا بڼو پرې را څرخي.

د بهرنیانو د ګټو، موقف او کوم ارزښت په شتون کې د ارګ مفسد باند نه کومه خپله ګټه، خپل موقف او خپل ارزښت لرلای شي او نه هم حق لري/ورکول کېږي چې ویې لري، نو دا هیڅ کله شونې نه ده چې ګټې دې یې له بهرنیانو سره ګډې وي او یاهم تش د هغوی د ګټو موازي ګټې دې ولري، بلکې دا تش لرل یې د دوی د زوال پېلامه ده او له همدې امله سر بېره پر دې چې بهرنیانو او د هغوی ګټو ته یې بشپړ تعهد وښود بیاهم چې یې د هغو تر څنګ د فساد له لارې د خپلو ګټو هڅه وکړه بهرنیان پرې تر وروستۍ کچې بې باوره او متنفر شول او لکه چې وینو پایله کې یې دغه مفسدین له یوې هر اړخیزې انزوا سربېره د مبهم برخلیك او وارخطایۍ یو داسې ګرداب ته ولوېدل چې خیال یې نه کېده او نه به هم سابقه ولري، همدا د دې لامل شوی چې که هرڅومره یې د سپین سترګۍ او بدنامۍ لامل شي هغه کړنې، وحشتونه او جنایتونه ترسره کړي چې دوی یې د بهرنیانو د خوښۍ وړ اټکل کړي، پر کابل پوهنتون برید او له هغه را وروسته مرموزې فردي او ډله ایزې وژنې او ځینې نورې بوږنږنکې پېښې ټولې له همدې جملې دي چې د شکردرې له پېښې وروسته د هغې په غبرګون کې د پر اصطلاح ملي امنیت یوه کارکونکي استعفا او اعترافونو خورا ښې بربنډې کړې هم دي، خو دا چې بهرني ځواکونه د سوله ساتو ځواکونو تر سرلیك لاندې دلته راغلي ول، په ښکاره یې تر وسې د همدې سرلیك ډېر خیال هم وساته او دغه مفسدین یې د ملېشو په توګه ورته کارول، سرچپه یې رنګه پر بده شوه، پر نړیواله کچه د ماتې او منفور ګرځېدو لامل یې شوې... پای

د مورچل وږمي

د غزې وير

عبدالقديم نظام

پر فلسطين د سرو سکروټو بارانونه اوري
د مردود قوم په لاس بې رحمه پرې بمونه اوري

موږ هم دا ستا په درد دردمند يو غزې ! و مو بښه
که ته غمجنه يې پر موږ دې هم غمونه اوري

ستا فريادونه ستا دردونه ستا زخمونه وينم
ځکه تر سترګو مې د اوښکو قطارونه اوري

غزې که تا ته لاس رسی مي ناممکنه ښکاري
زما او ستا پر دښمن دلته تندرونه اوري

هغه چي چيغي د بشر او د حقوقو وهي
هغه نن څه شول پر بشر خو نن اورونه اوري ؟

ولا چي ډېره مې ګيله له دې عربو کيږي
چو په خوله ناست پر فلسطين يې وحشتونه اوري

په سخته ورځ چې دې نظامه په ښه نه درغلی
پر داسي ورور دې د خدای قهر عذابونه اوري

غزل

عاکف امارتی

مونږ د جاهدوا په امتثال اغزنه لار وهو
ستړې ستړې شپه به آن تر څرک د سپين سهار وهو

خپله داعيه به مو تر مرګه په خوله پورې وي
چيغې د اسلام او آزادۍ په سر د دار وهو

مونږ يې چې را پرځوو کيدای شی چې خائن به وي
هسې بې موجبه نو موږ کله څوک په خار وهو

دلته د فساد او اشغال تخم ورک کول غواړو
مونږ د حق په توره سر د هر باطل غدار وهو

دلته د نفاق او بدمرغۍ تأسيسات نه غواړو
ځکه ورانوو يې د صليب جُرُفٍ هار وهو

ياد د قهرمان ابودجانه پرې ژوندی ساتو
کله چې په جنګ کې د تندي په سر دستار وهو

تله کوو عاکف امارتی د تروږمو په سر
لمر د آزادۍ باندې به خپل کلی او ښار وهو

غزل

عمر عمري

ماته انځور د وصال ښکاري د هجران آئنه کې
خپلوا کـي وينمه يارانـو د زنـدان آئنـه کـې

دا مې د اوښکو کتارونه پر رخسار دي روان؟
او کـه ورېږي پـه شېبو ـ شېبو بـاران آئنـه کـې؟

کـه دې معشـوق وبـايلو ، خيـر دی پـروا نـه کـوي
ګټـه مسـتوره وي عاشـقه ! د تـاوان آئنـه کـې

د نفـس کړنـو پښـېمان او ملامـت کړمـه ډېـر
د ويښ احساس، ژوندي ضمير او د وجدان آئنه کې

تـرې چـار چـاپېره ډلـې ـ ډلـې رقيبـان ولاړ وو
لـه شـرمه ځـان کتلـی نـه شـولو جانـان آئنـه کـې

معمول دی خامخا يې بد وايي، پرې تور لګوي
چې مخ تـه وګـوري بـد شـکله انسـانان آئنـه کـې

تللې ځواني بېرتـه راځي وايـه کـه نـه (عمري)؟
تـه ورشـه وګـوره لـږ دغـه د امکـان آئنـه کـې

اقصی

دادمحمد بشارت

سـپوږمۍ بـيم واخـلي ، ترهيـږي رانـه سـتوري
دلتـه ډار دی چـې د لمـر لاسـونه ښـوري

اخ د سـپينو سـجدو سـپين تنـدي مـو مـات دي
سره پـه وينـو دي معصـوم د تسـبيح تـوري

پـه سـينو کـې مـو قـرآن شـو پـانې پـانې
سرې مرمـۍ پـه الـرحمن او ياسـين اوري

د خوښـيو او ښـکلا ښـاپېرۍ تښـتي
پـه دې ښـار شـوي د څـه بـلاوو سـيوري

پـه دې خلکـو خـو دا ورځ ووينـه خدايـه
چـې غمونـه او دردونـه وي مختـوري

لـه څښـتن صـلاح الـدين او عمـر غـواړي
بـل څـوک نشـته چـې اقصـی او کابـل ژغـوري

بشـارته پـه ليـدو پسـې يـې مـړه شـوو
خـو د سـولې نـاوکۍ لا نـه راګـوري

د اسرائیلو لخوا په فلسطیني مسلمانانو باندې

د ظلم او زیاتي په اړه د اسلامي امارت اعلامیه

په خواشیني سره خبریږو چې د اسرائیلي صهیونیستانو او غاصبینو لخوا په مظلومو فلسطیني مسلمانا نو باندې د ظلم نوی څپه پیل شوی ده.

په فلسطیني سیمو کې د خلکو کورونه په زور غصب کوي، په مسجد اقصی او مسجد صخرة کې په لمونځ کونکو باندې د اسرائیلي ظالمو عسکرو لخوا ډزې او بریدونه کیږي.

اسلامي امارت دغه وحشت او ظلم په سختو ټکو غندي، د فلسطین له مسلمانانو څخه خپل حمایت څرګندوي او په اسلامي هیوادونو، د اسلامي همکاریو سازمان، ملګرو ملتونواو ټولو نړیوالو غږ کوي چې د اسرائیلو ددې ظلم مخه ونیسي او د مظلومو فلسطینیانو د حق تلف کیدو په وړاندې ودریږي.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۲/۹/۲۶هـ ق

۱۴۰۰/۲/۱۸هـ ش ـ ۸/۵/۲۰۲۱م


MORCHAL
Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal
نورستان